# د روغتیايي خدمتونو په ترسره کولو کې مرسته وکړئ

په گران هېواد کې د کورنیو جګړو له پیل سره سم زیاتره روغتیايي مرکزونه زیانمن او ویجاړ شول. کلي او بانډې خو په ټولیز ډول له روغتیايي سهولتونو او اسانتیا وو بې برخې شول، خو د دې تر څنګ په ښارونو کې هم روغتیايي ستونزو زور وموند. یو شمېر بهرنیواوملی موسسود خپلې بشري خواخوږۍ له مخې په څه ناڅه هغو سیمو کې چې د جګړې ډګر نه وې، خپلو روغتیايي فعالیتونو ته دوام ور کاوه. دغه هڅې او فعالیتونه بیاهم په هغه کچه نه دي چې د سیمې خلکو ټول دردونه ورغوي، خو بیا یې هم هغه لومړنۍ روغتیايي اسانتیا وي څه ناڅه برابري کړې وې.
له دې سره سره زیاتره ناروغان د درملنې په خاطر بهرنیو هېوادونو په تېره دریو ګاونډیو هېوادونو (پاکستان، ایران او هندوستان) ته روان وه، له څه باندې یوې لسیزې را په دېخوا د روغتیايي خدمتونو لړۍ یو څه وغځېده په ښارونو کې روغتیايي مرکزونه زیات او په عصري وسایلو سمبال شول. دا لړۍ کلیو او بانډو ته هم څه ناڅه وغځېده لږ تر لېږه لومړنۍ روغتیايي اسانتیا وي ورته برابرې شوې، خو له دې سره سره د یو لړ داسې ناروغیو نومونه واورېدل شول، چې په تېر کې یې چا نوم نه پېژانده، له دغو ناروغیو څخه د ایډز ( HIV ) پولیو (ګوزڼ) او ... یادولای شو. په افغانستان کې که څه هم د نورو هېوادونو په پرتله د دغو ناروغیو کچه ټیټه ده، خو په دې څه باندې یوې لسیزې کې د دغو دواړو ناروغیو د مخنوي، وقایې او درملنې لپاره یو شمېر طبي کتنځیونه برابر شول لږ تر لږه د دغو ناروغیو تشخیص وشول، په افغانستان کې د پولیو ناروغۍ له موندنې څخه په لومړیو کې دا جوته شوه، دغه هېواد ته زیاتره یادې پېښې له ګاونډیو هېوادونو څخه راغلې له دې سره د پولیو(ګوزڼ) په وړاندې د واکسین پراخه کمپینونه پیل شول د ایډز پېژندنې تشخیص او عامه پوهاوي لپاره یې هم ګروپونه وټاکل شول. د ګوزڼ واکسین کمپینونو لړۍ ان غرنیو سیمو ته هم وغځېده نړیوالې روغتیايي موسسو پټېلې وه چې د پولیو یا ګوزڼ ضد واکسین به د ګران هېواد ګوټ ګوټ ته رسوي دوی په څارویو هم هغو سیمو ته دغه واکسین ورساوه چې ټرافیکي لارې یې نه لرلې او د پلې تګ لارې یې هم ستوغې وې، دولت او د روغتیا په چارو کې نړیواله ټولنه هڅه کوي چې افغانستان له دغو ناروغیو پاک شي، خو په دې ورستیو کلنو کې چې جنګ، جګړو د مرګ او ژوبلې ځمکه توده کړه نو د پولیو یا ګوزڼ په واکسین یې هم اغېز وکړل یو شمېر هغه غرنۍ سرحدي سیمې چې د دولت له ولکې وتې وي د ګوزن ضد واکسین په سمه بشپړه توګه په خپل وخت ور ونه رسېده، د سیمې خلک سیمیزو دولتي او نادولتي ادارو ته په شکایت راغلل د امنیت ډاډ یې هم ورکړل، خو د دولت او وسله وال مخالفینو ترمنځ یې پر ناندریو او یو پر بل د تورونو په پورې کول دغه کمپاین له خنډ او ځنډ سره مخامخ کړل، د بشري خواخوږۍ له مخې په جګړه کې له ښکېلو خوا څخه هیله او غوښتنه کیږي چې بېګناه اولس په تېره معصومو ماشومانو ته د روغتیايي خدمتونو د ترسره کولو لپاره اسانتیاوي رامنځ ته کړي او له خیر رسونکو سره په دې برخه کې مرسته وکړي، په همدې هیله.


د امتیاز څښتن

د وړتیا او پرمختګ مؤسسه

د تاسیس نېټه

۱۳۸۰ د وږي دېرشمه

مؤسس

الحاج عمرا خان منیب

مسوول مدیر

پوهندوی لال پاچا ازمون

مرستیاله

یاسمین وزیري

کتنپلاوی

فاطمه کوهستانی، ډاکتر راضي خان همدرد،
بسم الله صافی، ډاکتر همایون "ګردیوال"،
محمد یونس صدیقي او ډاکتر صادق محبي

ډیزاین

اسد دانش مطبعه- کابل/ ۰۷۰۰۴۴۹۲۹۸

پتې

کابل: لومړی سړک، تایمني پروژه- کابل

کونړ: د فزیکي بیا رغونې مرکز، ملي راډیو
ټلویزیون ته څېرمه، د منډه کول سړک، اسد
آباد - کونړ

ټلیفون

۰۷۸۶۳۰۵۳۴۰۷



# فــوايد نماز شب

**ارسالی: یاسمین میلان**

1) باعث خشنودي خدا و دوستي ملائکه است.
2) باعث مباهات خداوند بر فرشتگان است.
3) باعث درخشش براي اهل آسمان همانند ستارگان است.
4) باعث روشني دل است
.5) باعث استجابت سريع دعا است.
6) باعث پذيرش توبه و پاك شدن از گناهان از جانب حضرت حق است.
7) باعث كفاره گناهان است.
8) باعث زيبايي صورت و شادابي چهره و نوراني شدن آن در طول روز است.
9) باعث سلامتي و تندرستي و رفع انواع بيماريهاي جسمي و روحي است.
10) باعث از بين رفتن غم و اندوه و تقويت نور چشم است.
11) باعث تمسك يافتن به اخلاق انبياء و اولياي خداوند است.
12) باعث انجام دادن سنّت پيامبران و صالحان است.
13) باعث تابش نور خدا به او مي‌شود.
14) باعث مهر و محبت و محبوب القلوب شدن بين مردم است.
15) باعث افزايش عمر است.
16) باعث جلب رزق و روزي فراوان و ادعاي قرض است.
17) باعث نوعي صدقه است.
18) باعث نوشته شدن چهار ثواب بزرگ براي خود است.
19) خداوند نه صف از ملائکه پشت سر نمازگزار قرار مي‌دهد.
20) كليد رفتن به بهشت و جواز عبور از پل صراط است.
21) زينت آخرت و نور مؤمن در آخرت است.
22) نماز شب همچون سايباني در روز قيامت است بر سرش.
23) نماز شب لباس بدن نمازگزار است در روز قيامت درحاليكه همه عريانند.
24) نماز شب در روز قيامت همچون نوري در برابرش است و چشم نمازگزار نماز شب در روز قيامت شادمان است.
25) نماز شب ميان شخص نمازگزار و آتش جهنم همچون حائلي فاصله مي‌گذارد.
26) ميزان اعمال خوب نمازگزار در روز قيامت سنگين است.
27) نماز شب همچون تاجي در روز قيامت است بر سرش.
28) چراغي است براي تاريكي قبر و برطرف كننده وحشت تاريكي قبر است.
29) نماز شب همچون مشعلي نوراني است در تاريكي قبر.
30) نماز شب، نمازگزار را از عذاب قبر ايمن مي‌كند و برات آزادي از آتش جهنم است.

# په کونړ کې د وړتیا او پرمختګ مؤسسې د بیا رغونې مرکز دري میاشتني فعالیتونه

راپور ورکوونکی: محمد سرور

د وړتیا او پرمختګ موسسه (DAO) د خپل کار پلان سره سم د کونړ او نورستان د معلولینو لپاره د فیزیوتراپي او د مصنوعي پښو جوړولو برخې لري. د تیرو دریو میاشتو په دوران کې د (DAO) یاد مرکز ۱۹۶ نارینه او ۳۸ ښځینه معلولینو ته د فیزوترافی ، ارتوتیک او پروستیټک بیا رغونه ترسره کړې ده . یاده موسسه د کونړ دغه دبیا رغونې مرکز د UNMAS په مالي مرسته پرمخ بیایي ، نوموړې موسسه د کونړ او نورستان معلولینو ته په وړیا ډول مصنوعي غړي جوړوي او هغوی ددې جوګه کوي چې په ټولنه کې نه د معلول بلکې د یو عام وګړي په توګه خپلو فعالیتونو ته دوام ورکړي او د ټولنې په هراړخیزه فعالیت کې فعاله ونډه و اخلي او پرځای ددې چې د ټولنې پر اوږو بار جوړ شي. ټولنې ته دهر قسم خدمتونه وړاندې کړي، په دغه مرکز کې د کونړ او نورستان د پخوانیو





او نوو معلولینو لپاره د بیا رغونې اسانتیاوې برابرېږي، د بیا رغونې دغه مرکز د دوو نه تر اتلس کالو ماشومانو لپاره بیا رغونې خدمتونه ترسره کوي.

یاد مرکز د تیرو دریو میاشتو لپاره د ۲۱۹ معلولینو دبیا رغونې پلان درلود ،له ښه مرغه چې دغه تعداد تر ۲۳۴ناروغانو ورسید او ورځ په ورځ یاد مرکز ته د ناروغانو د راتګ په شمیر کې زیاتوالی تر سترګوکیږي.

د دې مرکز د شتون نه مخکې معلولین به د یو ډیر عادی تکلیف لپاره جلال اباد او یا د هیواد نورو ولایتونو ته سفر کولو چې اوس د PRC له برکته معلولینو ته دغه اسانتیاوې د کونړ په ولایت کې ترسره کیږي، معلولینو به په دغه سفرونو په زرګونو افغانۍ مصرفولې او تر ډیر وخت لپاره به د خپل استوګنځی نه په بل ولایت کې میشت ول چې دا به دوی ته ډېره ګرانه تمامېده ،د وړتیا او پرمختګ موسسې (DAO) د دغه مرکز له برکته معلولین د هیواد په کچه په اقتصادي پرمختګ کې فعاله ونډه اخلي ، د پاکستان د قبایلي سیمو لکه باجوړ ، مومند او د ننګرهار د ځینو ولسوالیو معلولین د کونړ یاد مرکز ته مراجعه کوي اوهمدارنګه معلولینو ته د اپریل پر ۱۷ یو ټریننګ هم دایر شوی و.

امنیت د ټول افغانستان په کچه یوه عمومي ستونزه ده ولې د نورو ولایتونو په څېر په کونړ کې هم امنیتي ستونزې شتون لري خوبیا هم یاده موسسه (DAO) د PRC مرکز له امنیتي ستونزو سره سره خپلو فعالیتونو ته ادامه ورکړې.

موږ له خارجي ډونرانو څخه هیله لرو چې د یاد مرکز لپاره زموږ

سره د معلولینو لپاره پر کونړاونورستان سربېره چې د پېښور او باجوړ ایجنسی نه مهاجر شوي دي، مالی مرستې وکړي چې وکولای شو د معلولینو د بیا رغونې په برخه کې لازمې اسانتیاوې برابر ې کړی شو.

پر ۷ می ۲۰۱۳ م کال یاد مرکزمسولینو د کونړ د معلولینو د اتحادیې له رییس سره د همغږۍ یوه غونډه جوړه کړې چې په کی د معلولینو پرتېولو ستونزو او هغوی ته د اسانتاو برابرولو پرموضوع تفصیلي خبرې وشوې چې د معلولینو د ریس لخوا نوموړې موسسه (DAO) د PRCمرکز د فعالیتونو ستاینه وکړه او یادې موسسې د لوړو مقاماتو نه یې غوښتنه وکړه چې د نوموړي مرکز لپاره د مالي امکاناتو د برابروولو په خاطر د خارجي ډونرانو توجه جلب کړي ترڅو د نوموړي مرکز فعالیتونه په ټپه ونه دربږي، د نوموړي موسسې( DAO)د دغویادو فعالیتونو په باب دکونړپخواني والي سید فضل الله وحیدي ، دکار او ټولنیزو چارو درياست ریس محترم عطاء الله نوري، د ولایتی شورا دریيس ، د ښځو چارو درياست ، د اقتصاد د ریاست او د مهاجرینو ریاست سره ناستی ترسره کوي اوهغوی وخت په وخت له خپلوکړنوځخه خبرساتي.





**. د پروژې لنډيز:1**

د وړتیا او پرمختګ مؤسسه چې یوه نادولتي،ناپیيلي او خیریه ټولنه ده چې پر ۲۰۰۴ م تاسیس شوېده ، موخه یې د عامه پوهې او یو له بل سره د ملاتړ په ټینګښت کار کول دي، ترڅو د مدني ټولنو په ظرفیت لوړونه او د معلولینو په حقله په ټول افغانستان کې کار کول دي.

د کاري پلان له مخې د نوموړي موسسې کړنې د ۲۰۱۳ م کال د می د میاشتی له ۱ نیټې څخه تر ۲۰۱۳ م کال د جولایی ۳۱ نیټې پورې په کونړ، ننګرهار او کابل ولایتونو کې بیلا بیلی غونډې، روزنیز پروګرامونه او ورکشاپونه په بریالیتوب اوښه توګه ترسره شویدي، د یادې مؤسسې د اېپکس پروژې ټیم د کونړ ولایت بیلابیلو ولسوالیو او کلیوڅخه لیدنه کړې او د مدني ټولنو د ستونزو او اړتیاووپه اړه یی سروې ګاني ترسره کړیدي او د مدني ټولنو غړو لپاره یې غونډې جوړې کړیدي. د نوموړې مؤسسې ارزیابی د کاؤنټرپارټ نړیوالې مؤسسې په واسطه ترسره شوه ، همدارنګه د اېپکس پروژې بریښنایي کتابتون دهر نوعه خدماتو په وړاندې کولو سره د ټولنې خلکو پرمخ خلاص وي

**3. غونډې، ټریننګ او روزنیز پروګرامونه:**

د وړتیا او پرمختګ مؤسسې ټولو کارکوونکو په بیلابیلو وختونو کې ډول ډول روزنیز پروګرامونه له تموویلونکي اداري څخه د وړتیا او پرمختګ مؤسسې په مرکزي دفتر ، کابل او ننګرهار کی اخیستې او بیا یې په عین وخت کې د خپل ټیم د ظرفیت لوړیدا کړیده، همدارنګه د وړتیا او پرمختګ مؤسسې اېپکس پروژې د کاري پلان مطابق مدني ټولنو ته لاندې روزنیز پروګرامونه په لاندې نیټو ترسره شوی دی .

ددی نه علاوه د اېپکس ټیم د ظرفیت لوړنی لپاره دری روزنیز پروگرامونه دایر شو چی ۱۵ ورځی دوام یې وکړ

| شماره | د ورکشاپ نوم | نیټه |
|---|---|---|
| ۱ | مدیریت او رهبري | ۰۶- ۰۹ می ۲۰۱۳م کال |
| ۲ | مالي مدیریت | ۱۳-۱۶ می ۲۰۱۲ م کال |
| ۳ | داد غوښتنه (ایډوکیسی) | ۲۶جون ۲۰۱۳م کال |
| ۴ | اداري مدیریت | ۲۱ جولایی ۲۰۱۳ |
| ۵ | عامه اړیکي | ۲۸جولایی ۲۰۱۳ |
| ٦ | پروپوزل لیکنه | ۴ جولایی ۲۰۱۳ |








**4. دسر چینو مرکز**

د کاري پلان او د اداري سیستم له مخې دغه مرکز په مدني ټولنوسربیره د ټولنو نورو غړو او دولتي چارواکو ته د نوموړي مرکز په واسطه د انټرنیټ، انگلیسي ، کمپیوټر ، کتابتون او نوي تکنالوژي سره تړلي خدمات په وړیا ډول وړاندي کوي ،چې نوموړي مرکز په هر ډول نوي تکنالوژي مجهز دي، نوموړی مرکز د مدني ټولنو د ظرفیت لوړلو او هغوي ته د تخنیکي مرستي ورکولو په خاطر جوړ شویدی، ترڅو هغوي ترمنځ د یوي ښې همغږۍ برسیره مدني ټولني پدې وتوانیږي، چې څرنگه خپلي ستونزي پخپله په ښه توگه حل کړي او ددي مرکز څخه په لاس راغلي معلومات نورو سره شریک کړي ، د کاري پلان مطابق ددې مرکز مسؤل خپله وظیفه په سمه او ریښتیني ډول ترسره کړې ده او تل یې د مدني ټولنو د ستونزو په حلولو کې مرسته کړې، چې د پروژې پدې موده کې ددې مرکز څخه ۱۹۵ ځله د مدني ټولنو او غیرمدني ټولنو په واسطه لیدنه شوېده، چې ۳۳ نفره د مدني ټولنو او غیر مدني ټولنوغړو لیدنه کړې ده.

جمله لیدنه د مرکز څخه : ۱۹۵

مدني ټولنو د غړو شمیر : ۳۳





**5. د جنډر کړنې:**

لکه څرنګه چی په افغانستان کې خپل منځي شخړو په زیاته کچه منفي تاثیر په افغاني میرمنو او کوچنیانو غورځولې په ځانګړي ډول هغه میرمنې او کوچنیان چې په نورستان او کونړ ولایتونو کې د ژوند شپې او ورځې تیروي چې تل یې د دوي د عامه پوهاوي ، ښوونې او روزنې او کلتور کچه په ټیټه ساتلې ده، نو ددې دلپاره د وړتیا او پرمختګ مؤسسې ، د ایپکس پروژې په وسیله او د کاؤنټر پارټ نړیوالې مؤسسې په مالي مرسته د نومورو میرمنو او کوچنیانو ژوند ښه کولو لپاره د ایپکس پروژې د کاري ټیم په واسطه داسې غونډې جوړې کړیدي چې په هغې کې د ټولنې نږدې هرډول وګړي چې د هغې جملې نه د ټولنې دیني عالمانو ، ښوونکو، قومي مشرانو، زده کوونکو او نورو ګډون کړې چې په همدغه غونډو کې نومورو وګړو ته د ښځو او ماشومانو حقوق د اسلام په رڼا کې ور په ګوته شوي. برسیره پردی چی د ماشومانو د ښځو حقوق بیان شوی، په یوه اسلامی ټولنه کی د مشرانو ، دینی علماوو ، مور او پلار ، استادانو او نورو وګړو حقوق او دوی ته د درناوی کولو په اړه هم معلومات ورکړیدی. او تر ډېره حده کوشش شوی چې په ټولنه کې ( ښځې ، نران ، ماشومان او لویان ) یو د بل حقو ضایع نکړی او یوبل ته درناوی ولري.

د کاري پلان سره سم د جنډر افسر ۲۰۱۳ م کال د می میاشتی د ۱ نیټی څخه د جولایی د۳۱ نیټی پوری مدني ټولناو ځینی ریاستونو سره د جنډرد لاندی موضوعاتو په هکله د مالوماتو شریکولو په خاطر ۹ ځل لیدنه کړېده.





- ❖ په اسلام کې د نارینه او ښځینه حقوق
- ❖ په اسلام کې د ښځو میراث
- ❖ د ښځو تعلیم او دهغی اهمیت په اسلام کې
- ❖ د خاوند او ښځې حقوق د اسلام په رڼا کې
- ❖ جنډر یوشانوالي او غیر مساوات
- ❖ اسلام او میرمن
- ❖ ښځه او ښوونه او روزنه
- ❖ جنډر ته وده او پرمختګ

**6. د ډلییزو خبرو اترو (بحثونو) کړنې:**

د وړتیا او پرمختګ مؤسسه د خپل کاري پلان مطابق د مدني ټولنو د ظرفیت لوړونې سره په څنګ کې، په هره میاشت کې دوه یا درې ډله ییزې غونډې د بیلا بیلو موضوعاتو په اړه نیسي، ترڅو د هغوی نظریات، ضروریات او هر اړخیز مشکلات راټول کړیدي .

نو پدې اساس د پروژې په دې موده کې د ډله ییزو خبرو اترو (بحثونو) مسؤل ٦ ډله ییز بحثونه ترسره کړیدي اوپه ضمن کی د نومړو غونډو تعقیب هم د مربوطه ریاستونو سره کړی چې نومړي بحثونه په بیلابیلو سیمو او ولسوالیو کې ترسره شویدي لکه :

خاص کونړ، څوکی ، اسعد اباد ، سرکانو، مروره ، وټه پور چې په لاندې موضوعاتو خبرې اترې ترسره شوې دي.

- ✓ دښځو حقوق
- ✓ د رایې کارونې ارزښت
- ✓ د مدني ټولنومسؤلیتونه
- ✓ رضا کارانه خدمتونه
- ✓ د مدني ټولنو پیاوړتیا
- ✓ د شخړو حلول




# افراد دارای معلولیت باید کار کنند تا خود کفا شوند

**مصاحبه کننده: یاسمین وزیری**

محمد نعیم رحیمی فارغ ا لتحصیل صنف دوازدهم یکی از لیسه های شهر کابل میباشد وی 23 سال عمر دارد و فعلا در خیرخانه شهر کابل زنده گی میکند.

محمد نعیم میگوید: در یکی از ولایت نا امن کشور مشغول ایفا وظیفه بودم که در اثر انفجار ماین هر دو پایم از زانو بالا از دست دادم، و همچنان 14% دست راستم نیز درست فعالیت نمی نماید.

گر چه فامیلم با من رفتار نیک دارد هیچ وقت به من این احساس را نمیدهند که من معلول هستم اما بعضی دوستانم گپ های زشت میزنند و میگویند که از خاطر پول خود را به این حال انداختی من خودم زیاد رنج میبرم چون قبلا وظیفه داشتم و فعلا بیکارهستم.

بعد از معلولیت عروسی کردم خانم ام با من بسیار رویه خوب دارد. اما خودم مایوسی که دارم آن اینست که بیکار میباشم همچنان علاقمند هستم که تحصیلات خود را تکمیل کنم اما امکانات کم هست مثلا ترانسپورت وبعضی ضروریات دیگر که من نمی توانم براورده سازم.

کسب ویا حرفه را یاد ندارم اما به 3 زبان های پشتو، دری و انگلیسی تسلط کامل دارم.

زندگی ما متوسط است و فعلا نان اور فامیل ما پدرم میباشد، نهاد های که در عرصه معلولیت کار وفعالیت دارند بسنده نمیباشد باید ارزوی های معلولین بر آورده گردد یک تعداد معلولین در فقر و ناتوانی زنده گی میکنند از رئیس صاحب جمهور و بعدا از وزارت شهدا و معلولین میخواهم که با معلولین کمک های همه جانبه نمایند و همچنان از سکتورهای که در عرصه معلولیت کارمیکنند تقاضا دارم تا برای معلولین فابریکه ها وشرکت ها ساخته شود تا انها بتوانند مطابق استعداد وتوانایی های خویش کار وفعالیت نمایند تا خود کفا شوند و زندگی آبرومندانه داشته باشند.

گر چه من از معلولیت زیاد رنج میبرم اما کوشش میکنم که خود کفا باشم برایم سهولت کار کردن میسر گردد و مثل سابق وظیفه داشته باشم و هر روز به دفتر بروم که این یکی از ارزوی بزرگ زنده گی ام است.

به معلولین پیامم این است که کار کنند زحمت بکشند تا خود کفاشوند و محتاج کسی نباشند چون همه میدانیم که معلول ناتوان نیست فقط به تمویل کننده ضرورت دارند که کمک شان کند تا راه خوشبختی خود را دریافت نمایند.

محمد نعیم به خواندن مجله گدون زیاد علاقمند است و میگوید که این نشریه انعکاس دهنده مشکلات واستعداد های اشخاص دارای معلولیت میباشد، امید است با نشر پیام ها ومشکلات ما از طریق این نشریه انعده سازمان ها ونهادهای که درعرصه معلولیت کار وفعالیت مینمایند درمورد بازتوان ساختن این اشخاص توجه بیشتر نمایند تا معلولین افغانستان از حالت انزوا ومشکلات بدر آیند وبرای خود وکشور خویش مصدر خدمت گردند.



# له محمد یار

## شاعر سره د ژوند خواله

**نورولي سعید شینواری**

کندهار هغه ولایت دی چې د پېړیو راهیسې د هېواد د برم او سربښندنې د یوې تلپاتې نښې په توګه پاتې دی، میرویس نیکه د همدغه لوی کندهار د پښتنې مور، نازو انا نازولی و، احمد شاه بابا همدغه خاوره د ډیلي په تخت نه ورکوله او ملالۍ د همدې ولایت د زلمیانو وینه په خپله سوزناکه چغه په جوش راوسته، انګلیسي لښکر یې پرې مات کړ او خپل نوم یې ژوندی پرېښود.

د کارنامو په دغه خاوره ډېر ګلونه وټوکېدل او بیا د زماني سپېرو بادونو ووهل، خو موده پس بیا هم په ۱۳۵٦ کال د د ارغنداو د سیند پر غاړه د چارباغ په کلي کې د غلام حسین خان پر کاله د خوښۍ او د زوی د پیدا کېدو نغاره ووېنګېده.

هر خوا د مبارك شه غږونه وو، غلام حسین خان هم د خدای شکر پر ځای کړ او په خپل زوی یې عبدالاحمد نوم کېښود خو ده بیا په ځوانۍ کې د محمد یار تخلص هم ورسره یو ځای کړ، نوموړی چې په خبرو راغی نو مورو پلار یې سیپاره په لاس کې ورکړه : ((زه خپلې مور په لیك و لوست راوستم، خدای دې یې وبښي  د کلي د نجونو تر ځنګه به یې ماته هم دیني او د پښتو نظم درس راکاوه.))

مور ډېره خوږه وي نو ځکه محمدیار ته له ګړون مجلې سره د مرکې پر مهال هماغه خواږه ورېه زړه شول: (( زما ذهن ته ډېرې خبرې راغلې او هېرې شوې خو د مور هغه درس مې اوس هم نه هېرېږي چې راته زده کړی یې و، پس له حمده له صلاته، دا رنګ وایم زه و تاته، چې طلب د علم فرض دی، دیني علم لکه قرض دی.))



د محمد یار د روغ صحت او د شوخۍ دوره ډېره لنډه وه ځکه په وړکتوب کې ورته د پولیو ناروغي ورسېده او د ده تر څنګه یې د نوموړي کورنۍ هم ډېره وکړوله: (( هغه وخت ډاکټران نه وو، خلك به زیارتونو او حکیمانو ته تلل، خو مور، غریبان وو او زما یوه پښه د همدغې ناروغۍ له کبله وچه شوه.))

هغه وخت محمدیار د دومره سخت امتحان له تابه نه و، د کلي چم همزولو به ورته د هغه د معیوبیت پېغورونه ورکول او ده به هم په خپل تنکي ځان د دې تېولو خبرو او پېغورونو زور نشو راوړلی، هر وخت به د کوټې په یو کونج کې غلی ناست و، مور و پلار به یې هم دې حالت ته ډېر ځوربدل خو هغوی دومره وکړای شول چې عبدالاحمد محمد یار یې له ذهني پلوه یو کامل انسان وروزه: ((دغې ناروغۍ زه له پښو وغورځولم، په خاپوړو به تلم، کوچنیانو به هم پېغورونه راکول پلار به مې راته د ګوډ تیمور کیسې کولې چې هغه معیوب و مګر د خپلو خلکو لپاره یې نه هېرېدونکې کارنامې سرته ورسولې.))

د نوموړي په وینا پلار او کورنۍ یې په سخته غریبۍ کې هم د معیو بیت احساس نه دی ورکړی، تل یې نازولی او مینه یې ورکړې ده : (( په ښوونځي کې یې شامل کړم، یو قلم به په دوه روپۍ و، زما پلار به پیسې پور کړې خو زما اړتیا به یې پوره کوله.))

د کورنۍ همدغې مینې د محمدیار فکر ته د یو نوي ژوند رڼا او لاره وروښوده، نوموړي ببرته عادي ژوند پیل کړ او دا فکر یې له مغزو وځانډه چې ګواکې دی یو معیوب دی.

نوموړي د خپل پلار په هڅو پر خپلو پښو درېدل زده کړل او د لکړو په مرسته به ښوونځي ته روان و: (( له لکړو سره بلد نه وم، هره شیبه به راپرېوتم، زخمي به شوم خو ما هم د زده کړو پوخ نیت کړی و.))

پر خپلو پښو د درېدو برکت او د ژوند یوې نوې جذبې برکت و چې دغه معیوب هلك له اتم ټولګې د شعر په ویلو پیل وکړ او په ۱۳۷۷ کال یې د کندهار د بینوا فرهنګي ټولنې بنسټ کېښود: ((هغه وخت د بیان ازادي نه وه خو ملګرو په پټه فعالیت کاوه.))

محمد یار په ۱۳۷۹ کال له دولسم ټولګي فارغ او بیا په همدغه کال د کانکور له لارې د ننګرهار پوهنتون ژبو او ادبیاتو پوهنځي ته بریالی شو، خو حالاتو نوره ورته د زده کړو اجازه نه ورکوله .

نوموړی له ۱۳۸۱ کال وروسته ببنوا فرهنګي ټولنې ښکار فعالیت پیل کړ او دی یې هم د مشر په توګه په خپلو ژورنالیستیکو کارونو بوخت شو: (( د بینوا ویبپاڼې تر څنګه زموږ یوې مجلې



(( ښکلا)) هم په خپرونو پيل وکړ چې تر اوسه يې ۳۸ ګڼې
له چاپه راوتي، د روهي ادبي بهير مو جوړ کړ او تر ۳۶ زيات
علمي کتابونه مو خپاره کړل.))
د دې تر څنګه يې په خپله هم ګڼ شمېر ليکنې، يونليکونه،
شعرونه د پښتو ادب لمنې ته ورډالۍ کړي دي خو د خپلو
رياليستيکو ليکنو د افغان پالنې د هلوځلو له کبله چارواکو دی
ونه زغملی شو: (( په ۱۳۸۹ کال څو تنو پوليسو چې تورې
عينکې يې اچولې وې راونيوم او خپلې لکړې يې راباندې ماتې
کړې، څو ځلې مې وبيپانه بلاك شوه.))
نوموړی اوس مهال د کندهار د ښوونې او روزنې په پوهنځي
کې محصل دی خو د يو سياسي غورځنګ په رامنځته کولو
بوخت دی، هغه اوس دا احساس هم نه کوي چې د يو معيوب
انسان په توګه ټولنې ته د خدمت جوګه نه
شي ګرځېدلی: (( ښه دی چې معيوب يم خو
ټوپکسالار نه يم، زه اوس ښه يم د خلکو درد په
زړه اخلم خو زما معيوبيت هغو روغو انسانانو ته
پېغور دی چې وطن ته کار نه کوي.))
محمد يار له ټوپك نه ډېره کرکه لري، غواړي د
هر افغان زړه ته له انسانيت سره د مينې پېغام
ورسوي، نوموړي د دې کار لپاره د هېواد ګوټ
ګوټ ته سفرونه هم کړي دي: (( زما معيوبيت
زما لپاره ښه وسله ده، زه خلکو ته د خپل ځان
مثال ورکوم او ورته وايم چې د ژوند او هېواد د
جوړولو لپاره زما په څېر همت وکړئ.))
۳۵ کلن محمد يار اوسمهال په کابل کې دی
او واده يې هم کړی دی: (( مېرمن مې افسانه
يار زما د ژوند ښه ملګرې ده، يوه لور هم لرم چې
زينب نوم مې پرې ايښی دی.))
نوموړی په لره او بره پښتونخوا کې د عامو
خلکو او ا ديبانو لخوا ډېر نازول شوی دی، په
۱۳۸۸کې ورته د کويټې د پښتنو لخوا د شهيد
عبدالرحمان لودين ايوارډ ورکړل شو، همدارنګه
په ۱۳۹۰ کال په خوست کې د ده په وياړ يوه
ستره غونډه هم وشوه او د ده هڅې پکې وستايل
شوې.
نوموړی چې اوس هم په لکړو ګرځي ورنه مې
وپوښتل چې څنګه داسې په يو ځای سياسي،
ادبي او ژورناليستيکې هلې ځلې کوې، هغه راته
وويل: (( زما له ادبياتو سره مينه ده او سياست
مو د ژوند يوه برخه ده او بل ۷۰ فيصده زموږ
افغانان د فقر تر کرښه ټيټ ژوند کوي او سياسي
مشران هيڅ ډول د افغان انسان لپاره ملي ستراتيژي نه لري
نو دا ما ځوروي هڅه کوم له ملګرو سره په ګډه يو ملي مبارزه
وکړم ترڅو زموږ راتلونکی نسل وژغورل شي.))
محمديار د خپل ژوند نورې ترخې خاطرې هېرې کړې او يوازې
د افغانستان په غميزه داسې اوښکې تويوي: ((يوه دردناکه
کيسه چې زما په فکر لا په غزېدو ده دا زما د وطن تراجيدي
ده تېره ورځ مې يوه ورځپانه کتله چې د کونړ ځنګلونو وهل دوام
لري ما سره دا توان نه و چې دا مې لوستی وای بيا بل سرليك
و چې په ايران کې افغانان ځورول کېږي خو دا چې مې وکتل
هر لفظ زما لپاره د زهرو ډك و او تل داسې ناخوالو ته ژاړم.))

# د معلولیت لاملونه

## له طبي پلوه دمعلولیت لاملونه:

له طبي پلوه دمعلولیت پە لاملونو کې دوامداره ناروغۍ لکه دزړه او رګونو او د تنفسي سیستم نارغی ، سرطان او دشکر ناروغۍ، ټپونه لکه د ټرافیکي پیښو ، له لوړه ځایه لوېدل ، ماینونه او تاوتریخوالی ، دماغي ناروغۍ ، خوارځواکي ( سؤتغذي ) اچ ای وی \ایډس او نورې انتاني ناروغۍ شاملې دي .

دمعلولیت په لاملونو باندې د لانبه پوهیدو لپاره نبه ده چې دغه لاملونه په دریو برخو ووېشل شي :

١- جنټیک \ارثی لاملونه

٢ - بیولوژیک ( د عمر داړوندو لاملونو په ګډون) لاملونه

٣- فزیکي لاملونه ( د جګړې ، ماینونو او پیښو په ګډون )

### ١- جنټیک \ ارثی لاملونه:

کروموزومونه له جینونو څخه جوړ شوي دي ، چې په یوازې او یا یو ځایي توګه زموږ ارثی خواص ټاکي . ځینې معلولیتونه د یوشمېر ځانګړو جینونو له لارې ، چې طبي – بیولوژیکي حالت زیانمنوي ، رامنځته کېږي .

جنټیک او ارثي لاملونه معمولاً ((ولادي )) ګڼل کیږي ، یو شمیر نور ولادي لاملونه هم شته چې دمعلولیت لامل کېږي .

ولادي سؤشکل اوبې نظمي

### دورانه د مفصل بې ځایوالی ( خلع ) او قسمی بې ځایوالی

دورانه دمفصل بې ځایوالی کیدای شي چې په ولادي او یا کسبي ډول رامنځته شي ، چې په نجونو کې دهلکانو په پرتله زیات عمومیت لري .

په لسو کې د ورانه د بېځاوالي نهه پیښې خلفي ( شاتنی ) وي ، چې په دې حالت کې زیانمنه پښه لنډه وي او شدیداً تدور لري ( تاوه شوي وي ) . دورانه د بېځایوالي په قدامي ( مخکنی ) پیښو کې غړی د پام وړ لنډوالی نه لري ، خو شدید تدور او اوږدوالی ښیي او د نورو بېځایوالو په پرتله انعطاف نلري.

دورانه د مفصل بېځایوالی باید دژوند په دریو لومړنیو اونیو کې کشف شي ، چې په دې موده کې یې د Pelvic Harness سپلنټ په واسطه په دریو میاشتو کې په اسانه توګه درملنه کیدای شي . که چیرې په دې موده کې کشف او تشخیص نشو ، نو دماشوم یاد شوی مفصل په سمه توګه وده نشي کولی او هغه وخت تشخیصیږي چې ماشوم په ګرځیدو پیل وکړي .

**تاو شوي پښه یا Club foot:** چې د تلي ولادې کوږوالي او یا (congenital talipes equines varus (CTEV په نوم هم یادیږي د پیدایښت یوه نقیصه ده. پښه دننه او لاندې لورې ته تاو شوي وي. که چیرې درملنه یې ونشي نو په ناروغې اخته کس به د پښو په بجلکو او یا د پښو په څنګونو ګرځي. دغه ناروغي د پیدایښت یو له ډیرو معمولو ناروغیو څخه ده، چې په هر ١٠٠٠ نویو ژوندې پیدا شویو ماشومانو کې نږدې یو یا دوه پرې اخته وي. په سلو کې نږدې ٥٠ Club foot دو طرفه وي. په ډیرو حالاتو کې دغه ستونزه یوازې وي، خو شوني ده چې له نورو جدي ولادي ستونزو سره یو ځای وي.

د ناروغې په وخت سره تشخیص او جراحي مداخله ډېره مهمه ده. د هغه ماشوم سره چې Club foot لري د بیارغونې پروګرام له پیدایښت سره سم باید پیل شي.

د پونسیټي Ponseti په طریقه دClub foots د بیارغونې او درملنې تخنیک ډېر د قناعت وړ او د بیارغونې لپاره مهم دی. د Club foot د ناروغ په درملنه کې د کورنۍ د غړو فعاله ونډه لازمي ده. ( د نورو معلوماتو لپاره د ارتوپیدي او فزیوتراپي کلینکي کتاب ته مراجعه وکړئ)

### عصبي سیستم:

**دنخاع دوه ټرانګي یا Spina bifida:** دا د پیدایښت یوه بله نقیصه ده، چې د جنیني عصبي نل د نامکمل تړلو له امله را

منځ ته کيږي. چې د ملا د تير او نخاع شوکې د سؤ شکل لامل ګرځي.

د Spina bifida سؤ شکل په لاندې درې کټګوريو ويشل کيږي:



- د نخاع ترل شوې دوه ترانګې کيدل Spina bifida occulta
- د نخاع څخه د منج وتل يا meningocele
- myelomeningocel ( Spina bifida aperta)

د سؤ شکل ډير معمول موقعيتونه د ستون فقرات په قطني او عجزي ساحو کې وي.

د Spina bifida زيږون څخه وروسته د جراحي مداخلې له لياري رغول کيداې شي، خو د مداخلې بريا د نقيصې د درجې په اساس توپير کوي.

په Spina bifida aperta کې د جراحي مداخله لازمي ده. فزيوتراپستان او د بيارغوني کارکونکې د ثانوي ستونزو د مخنيوې لپاره دخيل وي ( د تقبض او سؤشکل مخنيوې، د کولمو او د بولو کنترول، د مفصلونو د حرکاتو د حدودو ساتل)

کيداې شي دغه ناروغان د کولمو او بولو کنترول د تل لپاره له لاسه ورکړي. دوې ته بايد د روغتيا په اړه د ځانګړې رژيم روزنه ورکړل شي خو د انتاناتو په وړاندې مخامخې وکړاې شي.

**په سر کې د اوبو توليدل Hydrocephalus:** دغه حالت کله نا کله په دماغ کې داوبوپه نوم پيژندل کيږي. په دماغ کې په غير نارمل ډول د نخاع شوکې مايع توليږي چې په جمجمه کې د قحف داخل د فشار د لوړيدو لامل ګرځي.



چې پايلې د دماغي سيستم سخت زيان دی.

دغه زيانونه د د ماغ په بطيناتو او يا د دماغ په قاعده کې د عنکبوتيه لاندې فضا کې د شوکې نخاع مايع د جريان د بندښت له امله را منځ ته کيږي.

دغه ناروغې د يو مسير يا Shunt د عمليات په مرسته درملنه کيداې شي، کوم چې دغه مسير ( يو پلاستيکي تيوب) په مرسته د شوکې نخاع اضافي مايع ددماغ له بطيناتو څخه عادي جوفونو ته لکه د پلورا، پريتوان، او يا د فقراتو کانال ته تخليه کړي. Hydrocephalus معمولاً د Spina bifida سره يو ځاې وي.

**د توازن له منځه تلل Ataxia:** د توازن د لاسه ورکولو نقيصه ده. د عضلاتو د همغږۍ د نشتوالي او د عصبي سيستم هغه برخې ته چې د حرکتونو د کنترول همغږې په غاړه لري د زيان له امله  ناروغ غيرې ثابت او د اطراف خوځښتونه يې نيمه او يا د تاو او پيچ په ډول وي.

**سترګه:** د سترګو په بيلابيلو ناروغيو کې ارثي فکتورونه خپل رول لوبوي، د هغه ناروغيو په ګډون چې په نويو پيدا شويو ماشومانو او لويانو کې د ړنديدو لامل ګرځي.

په نويو پيدا شويو ماشومانو کې په سلو کې د شپيتو څخه زياتې د ړوندوالي پيښې د ارثي ناروغې له امله دي، لکه ولادي ( د زيږون په وخت کې وي) لکه Cataract يا د سترګې ګل، ولادي ګلوکوما، د شبکې استحاله، د سترګې د مردکې وړوکوالي يا اتروپي او د سترګې سؤ شکل.

په سلو کې ۴۰ وګړي د سترګو ځانګړې کوږوالي strabismus ( د سترګو د عضلاتو نقيصه) کورنې تاريخچه لري، او اوس مهال هڅې رواني دي چې ددې مسول جين په ګوته شي.

په ځوانانو کې ګلوکوما يا دسترګې فشار او د عمر اړوند د سترګو استحاله يا macular degeneration د ړوندوالي دوه مهم لاملونه دي، او داسې ښکارې چې دواړه ناروغې په ډيرو پيښو کې په ارثي ډول دي.  پلټونکو د ګلوکوما

لپاره بیلابیل جینونو انځور کړي دي او د macular degeneration لپاره د جینونو انځور کولو هڅې پیل شوي دي. پلټونکو د هغه جین په ګوته کولو کې ډیر پرمختګ کړي دي کوم چې د Retinitis Pigmentosa لامل ګرځي.

**د سترګې ګل یا Cataract: Cataract** د لید ستونزه ده چې د عدسیي په کرستال او یا پوښ کې وده کوي. په لوړ



عمره کسانو کې د cataract په لومړیو پړاونو کې د عدسي د کرستال توان لوړیږي، چې د نږدې لید لامل ګرځي، او په تدریجي ډول ژیړوالي او د عدسي د فعالیت کموالي د شین رنګ د درک حس کموي. Cataract په عمومي ډول ورو ورو وده کوي چې د لید د له منځه تلو لامل ګرځي او د ړندوالي لامل ګرځي که چیرې يې درملنه ونه شي.
Cataract د بیلابیلو لاملونو له امله وده کوي، د اوږد مهالی شعاع ماورا بنفش ته مخامخ کیدو په ګډون، د ناروغې دویمي یا secondary لاملونه د شکر ناروغي، لوړ عمر دي چې دغه بدلونونه د سترګو د عدسي د پروتیني مالیکولونو د بدلونونو له امله رامنځ ته کیږي. ارثي فکتورنو ډیر ځلې د ولادي Cataract لامل دي.

**کروموزمي نقیصې:**

Down Syndrome : د ۲۱ کروموزم د دوه برخو په ځاې درې برخې یا trisomy ده چې د ارثي بې نظمیو له امله را منځ ته کیږي چې د ۲۱ کروموزم اضافي برخې په کې موجودې وي.
دغه حالت د یو شمیر اعراضو او نښو په مرسته تشخیص کیږي. ډیر ځلې د درک د حواسو کموالي، او د فزیکي



ودې ستونزې سره سره د مخ ظاهري بڼه ځانګړې ډول لري. Down Syndrome معمولاً دوړوکوالي په لومړیو پړاونو کې تشخیص کیږي.
هغه کسان چې په Down Syndrome اخته شوي وي، د معمول نه کم دعقل اود درک توان لري، او معمولاً کم یا منځنې دماغي تاخیر لري.

د Down Syndrome پیښې په هرو ۸۰۰ یا ۱۰۰۰ پیښو کې یوه اټکل شوي ده.

**۲- بیولوژیکي فکتورونه ( د عمر اړوند فکتورونو په ګډون):**

بیولوژیکي او یا طبي فکتورونه عبارت دي له انتاني ناروغیو، د نسجونو استحاله چې د عمر سره تړاو لري او هغه حالتونه چې د ژوند له دوران سره لګه زیږون او امیندوارې ستونزې دي. لاندې ناروغې د معلولیت بیولوژیکي مهم لاملونه

دي:

١- د نرمو نسجونو ټپي کېدل ( عضله، وتر، غضروف، او د مفصلونو ligaments)

٢- د مفصلونو التهاب ( روماتوئيد، Ostia، د تنکيو ځوانانو د مفصلونو التهاب، د مفصلونو نورې استحالوي ناروغي)

٣- د هډوکو ناروغي ( Osteoporosis، Osteoperia او د کلسيم کمښت ( د بنې په توګه Brittle Bone))

٤- د عضلاتو او د مفصل د Ligaments تقبض

٥- د ملا د تير ستونزې ( د فقرو تر منځ د ډيسک وتل او يا بې ځايه کېدل Disc protrusion or hernia ، د مفصل د بندونو ستونزې facet joint problems، د مفصلونو استحالوي ناروغي، د عضلو تاو او کش کېدل، (scoliosos، torticollis

٦- د مرکزي او محيطي عصبي سيستم ناروغي

٧- د غوږ او د mastoid هډوکي ناروغي

٨- اميندوارې، زيږون او د زيږون په وخت کې اړونده اختلالات

٩- شکر، قلبي وعائي حالات

**يادونه:** اول څخه تر شپږمه لوې ګروپونه دي چې د فزيکي بيارغونې څخه ډېره ګټه اخيستلاې شي.

**٣- فزيکي لاملونه:**

فزيکي فکتورونه د ټکر، جګړې، تاوتريخوالي، او د ماينونو ټپيان سره له دې چې په پرمختيايي هېوادونو کې ډېر مهم او د مخنيوي وړ دي، خو بيا هم د معلوليت لامل ګرځي. د معلوليت مهم فزيکي فکتورونه په لاندې ډول دي.

• په سر، غاړه، سينه، نس، د ملا لاندې برخه، قطني فقرات او لګن خاصرې، اوږه، او مټ، څنګل او لاس، مروند، د ورون هډوکې او ورون، زنګون، پنبه، بيډې، او قدم ټپونه (دغه ګروپ د فزيکي بيارغونې څخه ګټه اخيستلاې شي)

• سوزېدل او کيمياوي توکو اغيز (دغه ګروپ د فزيکي بيارغونې څخه ګټه اخيستلاې شي)

• يخ وهلې

• د دوا له امله مسموم کېدل، طبي او بيولوژيکي توکي

• د هغه توکو سمي اغيز چې غير طبي دي او د سرچينو په توګه کارول کيږي.

• د ترضيض لومړني اختلاطات: پوستکي باندې ټپ، عضلي-اسکليټي سيستم

• د طبي او جراحي مراقبتونو اختلاطات

• ټکرونه ( ترانسپورت، لويدل، مضره توکو ته مخ کېدل، طبعي پېښو سره مخ کېدل، د حيواناتو سره اړيکې)

• په قصدي توګه خپل ځان ته زيان رسول

• يرغل

• د جګړې او د ماينونو اوناچاودې توکو پاتې شونو له امله ټپي کېدل

**لنډيز:**

په پرمختيايي هيوادونو کې په ځانګړې توګه په افغانستان کې د معلوليت لاملونه په لاندې فکتورونو پورې تړاو لري:

• جګړه ( د اطراف د غوږ، سترګو، اوريدلو او.... له لاسه ورکول)

• کمزوري روغتيايي حالت ( توبرکلوز، جذام، د منځنې غوږ التهاب Otitis media چې د اوريدلو د حس د له منځه تللو لامل ګرځي)

• د مور او پلار له لورې د پوهاوې نشتوالى ( نس ناستې، چې د خوړخواکۍ او د ودې د ځنډيدو لامل ګرځي)

• له وخت څخه د مخه واده کول( دښځو اميدواره کېدل په داسې حال کې چې ددوې بدن په سمه توګه وده نه وې کړې دا کيداې شي چې د ولادت د ترضيض يو مهم لامل وى) ځواني ميندې د اميندوارې په موده کې کمې ستونزې لرې نظر د زيات عمر لرونکو ميندو ته

• د زيږون د مخه د مراقبت نشتوالى ( چې د دماغي ګوزڼ او يا د دماغ د زيان لامل ګرځي)

• د معافيت د کمپاينونو نشتوالى ( پوليو يا ګوزڼ)

• د کورنيو د خپلوانو په منځ کې ودونه چې د ارثې ناروغيو د زياتيدو لامل ګرځي لکه Cataract، د عضلاتو بدلون يا Muscular Dystrophy، Clubfoot او داسې نور

• اميندوارې ميندې د ډاکتر د مناسبې نسخې پرته دارو کاروي.

**د ګهون مجلې درنولوستونکیوپه دې ګڼه کې مو دهېوادله سیاسي چارو کارپوه اودمتحده ایالاتودسولې انستیتوت مشرښاغلي شاه محمود میاخېل سره مرکه کړې چې تاسې درانه یې لوستوته رابولو.**



# د ټاکنو لپاره لویه ستونزه د با اعتباره ټیمونو او کاندیدانو نشوالی دی

۱:میاخېل صاحب که لومړی راته دخپلوکارونوپه باب رڼاواچوئ؟

د متحده ایالاتو د سولې انستیتوت له ۲۰۰۲ م کال نه راپدې خوا په افغانستان کې کار کوي، خو رسمي وړوکی دفتر یې پر ۲۰۰۸ م کال پرانسته چې زیاتره د قانون د حاکمیت، رسمي او غیررسمي عدالت په چوکاټ کې کار کاوه. پر ۲۰۰۹ م کال یو اس ای پی پوره دفتر پرانیسته چې مشري یې له هماغه مهاله راپدې خوا زما په غاړه ده. موږ په مختلفو ساحو کې لکه میډیا، مدني ټولنې، ښه حکومتداري، د قانون حاکمیت او داسې نورو سا حو کې چې د سولې په راوستلو کې مرسته کوو او زیاتره پروژې د بیلابیلو مدني ټولنو او ان جیو ګانو له لارې چې د افغانستان له حکومت سره ثبت او راجستر دی کار کوو، دوی ته ګرانټونه یا وړې پروژې ورکوو چې اوس مهال تقریبا تر شلو زیاتو مدني ټولنو سره په شریکه کار کوو.

۲:لکه څرنګه چې ښکاري دجګړې لمبې ورځ په ورځ غځېږي ،تاسې په یوه داسې برخه کې کارکوئ چې موخه یې په هېوادکې دسولې ټینګښت دی،څنګه کېدای شي چې په هېوادکې د سولې اوثبات فضارامنځته شي اوجګړه پای ومومي؟

که له یوې خوا افغانستان د یو شمېر ستونزو سره مخامخ دی خو د دی ترڅنګ د افغانستان لپاره ښه فرصتونه هم شته چې د افغانستان مشرتابه او ولس باید له دې فرصتونو نه په استفادې ملي یوالی رامنځ کړي، د اداري اصلاحاتو او قانون حاکمیت په چوکاټ کې باید عملي پروګرامونه ډیزاین او عملي کړي. دې کې هم شک نشته دی چې په

تيرو دولس کلونو کې د افغانستان مشرتابه د فرصتونو نه او هم د نړيوالې ټولنې د مرستې او داخلي منابعو نه سمه ګټه اخستې نه ده، خو راتلونکي کال کې به دافغانستان خلکولپارهه انتخابات او سياسي انتقال يو نوی فرصت وی. که د دغو انتخاباتو په جريان کې يو مشروع مشرتابه ته چې په ملي او بين المللی کچه اعتبار ولري، رامنځته کړی ،نو دا اميد شته چې سوله او امنيت ټينګ شی، ښې حکومتداری او ودې ته زلاره چاره برابره کړي.

۳:مياخېل صاحب څه فکرکوئ که حالات همداسې دوام وموميږ،ناامني ورځ په ورځ زياته شي نوټاکنې به ترسره شي؟

دی کی هيڅ شک نشته چې موجوده وضع د منلو وړ نه د ه او مثبت بدلون بايد راشي خو دا بدلون له انتخاباتوپرته نا ممکن دی او بل هرحالت، هيواد د بی ثباتی سره مخامخ کوي. البته يو څه امنيتي ستونزې به وي، خو دنړی په نورو هيوادونو کې تردې بدترو حالاتو کی انتخابات تر سره شوي دي او په افغانستان کې هم امکان لري. زما په عقيده په انتخاباتو کې درغلی به لويه ستونزه وي ځکه چې د انتخاباتو په نه کولو او يا د درغلۍ نه ډک انتخابات دواړه د نظام مشروعيت له سوال سره مخامخوي . نود نا مشروع نظام دوام او بقا او هم د بين المللی ټولنې مرسته به بيا ستونزمنه وي چې د افغانستان له حکومت سره دوام پيداکړي.

۴:دناامنی په صورت کې به ټاکنې رنې وي؟

درغلي يوازې په نا امنی پورې تړلې نه ده ځکه که مونږ تيرو څو انتخاباتو ته نظر واچوو نو درغلی د نا امنی له وجه نه وه بلکې په درغلی کې د کانديدانو، د هغوی د ملاتړو او حکومتوالی، ادارو او خاصتا د انتخاباتو کميسون په کې پراخه ونډه درلوده.

۵:ستاسې له نظره دټاکنوپروړاندې لوی ګواښونه کوم دي،اوځنګه کېدای شي ،مخه يې ونيول شي؟

زما په ا ند د ټاکنو لپاره د ټولو نه مهمه ستونزه د با اعتباره ټيمونو او کانديدانو نشتوالی دی. ځکه با اعتباره ټيمونه او کانديدان کولی شي چې ولس ته مثبت پيغامونه ورکړي او ولس پر دوی اعتبار وکړي، انتخاباتو کې برخه واخلي. ځکه د ولس بې تفاوتي به انتخاباتوته لويه ضربه ته وی. د دی تر څنګ د انتخاباتو د کميسون نا پيلتوب او د حکومتدارو عدم مداخلت په انتخاباتو هم ډير مهم دی.

زما په اند د دې ستونزو نه وروسته امنيتي مسايل هم مهم دي بعضی سيمو ته چې که د دولت له خوا سياسې اراده موجوده وي، دا ستونزې حل کيدی شي.

۶:اوس مهال زيات شمېرخلک د۲۰۱۴کال په باب اندېښنه لري،ستاسې له نظره د۲۰۱۴کال تصويرڅه ډول دی اودخلکواندېښنواوويرې ته په کومه سترګه ګورئ ،مثلادخلکويوه اندېښنه داده چې ۲۰۱۴کال کې به افغانستان له اقتصادي ستونزو سره لاس وګرېوان شي؟

که پر ۲۰۱۴ کال کی سياسي انتقال د يوې مشروع پروسې له لارې چې انتخابات دی تر سره شي، نو بيا اقتصادي انديښنو ته د حل لار پيدا کيدلی شي خوکه سياسي ثبات نه وي نو بيا به امنيتی او اقتصادی ستونزی هم زياتې وي. دې کې هيڅ شک نشته چې دافغانستان اراتلونکی حکومت بايد په لړو امکاناتو ډير کار وکړي، ځکه دغه بې قيده او شرطه مرستې چې په تيرو دولسو کلونو کې افغانستان ته راغلې، نور به نه وي، خو د دې فرصت به وي، چې د کمو امکاناتو نه ا استفاده وشي، حال داچې تر اوسه د ډيرو پيسوښکته پورته کول جنګی اقتصاد رامنځته کړ چې زياتې پيسې پخپله د يو لړ بې ثباتۍ لامل شوی دی.

۷:له ۲۰۱۴کاله وروسته به دنړۍ والودريځ دافغانستان په باب څنګه وي،ايادوی به له افغانستان سره خپلومرستوته دوام ورکړي؟

د ۲۰۱۴ کال نه وروسته زما په اند د نړۍ مرستې د افغانستان د راتلونکي حکومت د مشروعيت او سياسی ثباته پورې اړه لري، خو په هر حال بين المللی مرستې به کمې وي او راتلونکي حکومت سره مرستې به مشروط په ښې حکومتدارۍ وي.

۸:څه فکرکوئ چې دبهرنيانوپه وتلوسره به په افغانستان کې د۱۹۹۲کال پېښې تکرار نه شي ؟

که راتلونکی حکومت په ملي او بين المللی سطحه مشروعيت ولري، نو فکر نه کوم چې د ۱۹۹۲ کال په شان پيښې تکرار شي، ځکه دا شرايط د هغه کلونو سره فرق لري، خو که حکومت مشروعيت د لاسه ورکړ ،نو بيا تشويش شته دی.

# انکشافات اخیر بخش صحت روانی و سو استفاده مواد نشه آور

**در بخش آموزش ها**

• وزارت صحت عامه همکاری تخنیکی موسسات است واز ترینینگ های که در رابطه به صحت روانی توسط موسسات غیر دولتی به کارمندان مراقبت های صحی اولیه تدویر میابدنظارت می نماید

• وزارت صحت عامه ترینینگ 12 ماهه ی رادر مورد تربیه مشاورین روانی –اجتماعی را ایجادکرده که سه ماه اول آن آموزش علمی در مرکز و9 ماه بعدی آموزش های تجربوی درساحه کارمی باشد.از نصاب درسی که توسط وزارت صحت عامه تائید شده استفاده می نمایند

• تربیه (78)مشاورین روانی-اجتماعی که تعدادمجموعی آن در کشور تا به حال به(145) نفر میرسد

• تکمیل وانکشاف کوریکولوم UGصحت روانی برای فاکولته های طب

• تکمیل وانکشاف کوریکولوم PGصحت روانی برای فاکولته های طب

• تربیه وآموزش37ترینران از موسسات تطبیق کننده خدمات صحی اساسی برای تسریع ادغام صحت روانی در مراقبت های اولیه

• وزارت صحت عامه در همکاری نزدیک تخنیکی با دفتر محترم IAMدر رابطه به ایجاددیپارتمنت مشاوره روانی – اجتماعی درچوکات انستیتوت علوم صحی بوده وداکتر بشیر امیدوار ایجاد آن در هرات وکابل می باشد

• همچنان با دفتر IAM آمریت صحت روانی میخواهد برنامه مهارت های زندگی را دریک تعداد مکاتیب در مزار شریف عملی سازد

گسترش خدمات به ولایات

• آمریت صحت روانی یک جا با آمریت صحت باروری وزارت صحت عامه کارمیکند که مسول صحت باروری ولایات را رسما در برنامه های صحت روانی دخیل سازند

• آمریت صحت روانی وزارت صحت عامه برنامه ظرفیت



سازی مسولین صحت روانی موسسات تطبیق کننده در سطح ولایات انجام دادکه ولایات را تحت پوشش بگیرند. این مسولین مسولیت تربیه عرضه کنندگان صحی را در ولایات دارند

• آمریت صحت روانی 6 ورکشاپ منطقوی در تمام زون ها به اشتراک روسا صحت عامه ولایات تدویرنمود.هدف اصلی این ورکشاپ ها انکشاف پلان های منطقوی در هماهنگی با روسسا صحت عامه ها صورت کرفته.این ورکشاپ ها برای تقویه نقش روسا صحت عامه هادر برنامه ریزی ونظارت از عرضه خدمات صحت روانی در ولایات مربوطه شان تدویر یافته که در بلند بردن وتقویه هماهنگی منطقوی شان حمایه گر باشند

• انکشاف 45 پیام ستاندرد معه تصاویر برای تطبیق کنندگان خدمات صحی اساسی

• تعین نمودن یک نفرPHOبرای نظارت، راپوردهی در سطح ولایات

• دوبرنامه سیر علمی به کشورهای تاجکستان وهندوستان صورت گرفته وموافقت نامه برای امضایMOU(تفاهم نامه)بین NIMHANSبنگلورکشور هندوستان ووزارت صحت عامه دولت اسلامی افغانستان

• شامل ساختن کمپوننت های جدید صحت روانی در BPHS( بازنگری سال2010)
• تاسیس سیستم رجعتی میان سطح اولی-دومی وسومی

**خدمات صحت روانی به اساس شفا خانه ای**

• دربرنامه های کاری پروژهIMC در مورد باز سازی شفاخانه صحت روانی،مرکزترینینگ ومنابع برنا آصفی،کودکستان ،ترمیم،رنگ آمیزی،تهیه لوازم،قالینها،لین دوانی، برق کشی، سایه بان ها وروکش ها بالای گدام ها وذخایر وارد زنانه،سیستم انترنیت در تمام شعبات، راه های کانکریتی،باز سازی دروازه وکلکین ها، کلکین هاودروازه المونیمی ، اطاق های جدا برای مردان وزنان، طب عدلی .....وغیره ساخته شده

• دفتر IMCیک تعداد رهنمود ها پروسجر ها را درشفاخانه صحت روانی کابل (سطح سومی)انکشاف داده که هم توسط آن کارمندان آموزش می بینند وهم عملا در حال اجرا است. در پهلوی آن یکجا باوزارت صحت عامه در ساختن 45 پیام های روانی معیاری که در مراقبت های صحی اولیه قابل تطبیق است کارنموده است.وزارت صحت عامه در حمایه بادفتر.IMCدر انکشاف نصاب درسی ستاندردوتائید شده برایUG(فارغین پوهنتون طبی کابل)وPG(بعد از فراغت برای برنامه تخصصی (در رابطه به صحت روانی کار نموده است

• از طریق پروژهIMCبعضی از ساختمان های شفاخانه صحت روانی مثل تعمیر سه طبقه ای با وارد سراپا،اداری، مطبخ،دواخانه، لابراتوار، وانبار ها شامل میشود

• در زمان کنونی عرضه خدمات شفاخانه ای صحت روانی در 5 شفاخانه حوزوی با داشتن 20-10 بستر به بیماران روانی در تعمیر شفا خانه ها موجود است

• کمیته بازنگریEPHSعرضه خدمات صحی شفاخانه ای وزارت صحت عامه که مسولیت بستهEPHSرا هم دارد در28ولایت و6 شفاخانه زون تائیید نموده است. این شفا خانه ها واحد های سطح دومی اند

• انکشاف18 پروسجر نرسنگ روانی برای نرس های که در شفاخانه های صحت روانی

• باز نگری یونیت صحت روان در شفاخانه های عمومی از طرف کمیتهEPHS

• ادامه برنامه های ظرفیت سازی برای کارمندان شفاخانه در بخش های تخنیکی، اداری وتدریسی

• تاسیس مرکزتداوی به گنجایش 300 بستر در شفاخانه معتادین در کابل برای رسیدن به مشکلات معتادین روی سرک.

**شاخص های صحت روانی درBPHS**

• HMISسیستم معلومات صحی .وزارت صحت عامه که انعکاس کننده عرضه خدمات صحی در کشور است. آمریت صحت روانی با موفقیت چند اندیکاتور را شامل آن ساخته است.

- تعداد اختلالات معمولی روانی (افسردگی، اضطراب، اختلال سترس بعد از صدمه)
- تعداداختلالات شدید روانی تشخیص وارجاع شده
- تعدادبیماران صرع
- تعداد تسهیلات صحی بامواد IECدر رابطه به صحت روانی
- تعداد تسهیلات صحی که خدمات سم زدائی به معتادین مواد مخدر انجام میدهند
- امکان موجودیت خدمات مشاوره روانی- اجتماعی در تسهیلات صحی
- تعداد مراجعینکه مشاوره روانی اجتماعی را گرفته اند
- موجودیت ادویه فلوکسیتین وامیتریپتیلین در دیپو

• اضافه نمودن6 اندیکاتور صحت روانی در چک لست عمومی نظارتی وزارت صحت عامه

- تعداد بیماران مبتلا به اختلالات معمول روانی کشف شده در ربع گذشته
- تعداد مراجعین که در جلسات مشاوره روانی اجتماعی طی ربع گذشته اشتراک نموده اند
- تعداد واقعات رجعت داده شده به سطوح بالا تر طی ربع گذشته
- تعداد واقعات تداوی شده از سو استفاده از مواد نشه آور طی ربع گذشته
- تعداد عرضه کنندگان خدمات صحی آموزش دیده در بخش روانی ومشاوره روانی اجتماعی
- موجودیت ادویه صحت روانی بر اساس بسته خدمات صحی اساسی در ربع گذشته



لنډه کیسه

# څانګه

لیکواله یاسمین وزیري

څانګې د ژوند پینځه پسرلی تېر کړي و چې د مورد مینې له نعمت څخه بې برخې شوه،او په کورنۍ کې تر ټولو وړه وه. هغه لا ډېره کوچنۍ وه چې د مور سیورى یې له سره پرېوت،ډېره خپه وه،ځکه چې خوږه مور یې له لاسه ورکړې وه، تل به یې یادوله اوهېڅ شي خوند نه ورکاوه. د وخت په تېرېدو سره د څانګې په زړه کې ډېرې هیلې او ارزوګانې را وپارېدې او د نورو همزولو په څېر یې غوښتل چې زده کړې وکړي،ښه ژوند ولري او د مور ه نیمګړې هیلې پوره کړي .

مور یې غوښتل چې څانګه لوړې زده کړې وکړي،او په راتلونکي کې یوه ښه ډاکټره او یا یوه ښه معلمه شي. خو

ګـڅون
د وړتیا او پرمختګ مؤسسه
دوهم ټوک، پرله پسې ۹ ۲ ګڼه، ژمی - وری ۱۳۹۲

د ځانګې کورنۍ داسې روږل شوې وه چې د زده کړې له چاپیریاله لرې وه، او نه یې غوښتل چې ځانګه خپلې هیلې او ارمانونه پوره کړي.

ځانګه داسې نجلۍ وه چې له نورو نجونو او همزولو څخه متفاوته (جلا) وه،راتلونکي ژوند ته یې ډېر ډېرفکرونه کول،ځکه چې د مور له مرګه وروسته ډېرې بدې ورځې یې ولیدې له ژونده خوښه نه وه او تل یې له ځان سره ویل ولې په ما داسې وشول؟ ولې مور نه لرم؟ اخر زما ګناه څه ده؟ ولې زما ژوند داسې برباد دی؟ولې ولې ولې؟

ټولې همزولو مې مور لري او زه یې نه لرم او کورنۍ مې هم راسره ښه نه کوي او زده کړې ته مې نه پرېږدي.نوره په چیغو شوه او هیڅوک یې نه و چې د ولې کلیمې ته یې ځواب ووایي،د هغې خوارې نصیب هم دارسې خوار و.

د وخت په تېرېدو سره یې پلار بل واده وکړ او بېوزلې ځانګه ته یې میره پیدا کړه، او د هغې خوارکۍ په ژوند کې د تور تم نوی پړاو پیل شو او د هغې ژوند لا پسې بې رنګه اوبې خونده شو.

د کور ټول کارونه به میرنۍ مور په هغې کول د شفتلو او واښه درانده درانده پنډونه یې پر سر چلول چې ډېر درانده وي ، دومره درانده چې د دې له وزنه څو برابره زیات وزن یې درلود.

ځانګه راتلونکي ژوند ته ډېره ځوربده ،تل به یې سوچونه کول او له ځان سره به یې ویل خدای مکړه راتلونکی ژوند مې داسې نه شي لکه دا تېر ژوند، په سوچونو کې یې اوښکې په سترګو کې ګډېدې او دا اوښکې د نا هیلۍ او بې وسۍ اوښکې وې چې لکه فوارې یې له سترګو روانې وې.

هره شېبه به یې په یوه غټ غم تېراوه نور یې دا هېڅ نشو زغملای، د ښوونځي تلل اود ښه ژوند ارمان یې په زړه کې پاتې شو.تل به یې د واښو پنډونه چلول،د کور ټول کارونه او د میرې اولادونه یې کړارول.

هغه بې وزله له ټولو نړۍ او خلکو څخه یې زړه تور شوی و ،د هر چا او هر څیز په څېره کې یې خپله بد مرغي او بې وسي لیدله،هر چا ته یې په کرکه کتل.هېڅ یې نشوکولای، ډېرې هیلې یې په زړه کې وې خو یوه هیله یې هم تر سره نه شوه د ډېرو هڅو په پایله کې یې هم څه تر لاسه نکړل. او راتلونکی یې هم په یوه توره تیاره او بدمرغي کې ښکارېده، په ځانګه ټوله نړۍ تورتم وه هېڅ نه پوهیده چې څه وکړي او د چا نه مرسته وغواړي...؟

شپې او ورځې تېرېدې اما د ځانګې ژوند په همغه نا معلوم تورتم کې ورک و او هېڅ کومه هیله یې هم د ښه ژوند نه درلوده ځکه چې ډېرې هڅې یې وکړې اما هېڅ په لاس ور نه غلل.

ژوند یې په سختۍ،عذاب او کړاو تېراوه، د وخت په تېرېدوسره پلار یې د میرې په لمسون یو معتاد سړي ته چې ډېر زوړ هم و ورکړه.

ځانګه هرې خوا ته تلله او مرسته یې غوښتله اما هېچا د هغې معصومانه آواز نه اورېده ډېر یې ژړل داسې اوښکو یې په مخ بهېدې چې تا به ویل د رنې اوبه رودونه دي.

بلاخره ځانګه یې هغه سړي ته واده کړه چې ځانکه هېڅ خوښه نه وه ډېر بد ژوند یې در لود د یو معتاد سړي سره ،او تل به یې په ډېره بې رحمۍ وهله او ډېرظلم او ستم پرې کېده. د ځانګې نازک اوکوچنی وجود ډېر غمونه یې زغمل او هره ورځ به لکه واوره چې د لمر په وړاندې ویلې کیږي دا به هم د حالاتو پر وړاندې ویلې کېده او هره ورځ به له بلې څخه خواره او بد مرغېدله، نور یې د دې بد مرغیو د زغملو توان نه درلود ورځ تر ورځ خواره او رنځورېده، اقتصادي حالت یې هم ښه نه و او د خاوند له خوا به تل وهل او ټکول کېده، ډېر خوار ژوند یې و او پلار یې هم پوښتنه نه کوله د میرې سره یې پلار هم میرنۍ شوی و،لکه چې وایي میرې سره پلار هم پلاراندر شي.

ځانګه وه او د نا هیلۍ شپې او ورځې، د وخت په تېرېدو سره ځانګه د زړه په رنځ اخته شوه او لږ لږ یې رنځ ډېرېده او له ژوند څخه یې تمه کموله اود هغې ښایسته او ضعیف بدن یې په یوه زیږه پاڼه بدله کړه او د تل لپاره یې د دې بد مرغه ژوند څخه خلاصی پیدا کړ د ارمۍ غیبرې ته یې پناه وروړله او له کړاونو څخه یې ځان خلاص کړ.



# آموزش فن وحرفه مناسب یک راه خود کفایی برای معلولین است

**مصاحبه کننده: فاطمه کوهستانی**

خواننده گان محترم مجله گدون اینبار خواستیم مصاحبه را با محترم محمد علی محبتی هماهنگ کننده ملی بخش حمایت از اشخاص دارای معلولیت درکمیسیون مستقل حقوق بشرانجام دهیم که توجه شما را به خواندن آن جلب مینماییم.

س: چه مدت میشود که در کمیسیون حقوق بشردر بخش معلولیت کار و فعالیت مینمایید؟

ج: هر چند ازمدت کارم در کمیسیون مستقل حقوق بشر افغانستان حدود ده سال میگذرد ولی از اگست سال 2008 به صفت امر بخش حمایت از حقوق اشخاص دارای معلولیت در دفتر ساحوی کابل این کمیسیون بعد از سپری نمودن آزمون مقرر شده و از سال 2010 به بعد با شرکت در رقابت دیگر به حیث هماهنگ کننده این بخش در دفتر مرکزی کمیسیون مستقل حقوق بشر افغانستان مشغول ایفای وظیفه میباشم.

س: چه باعث شد که بخش معلولیت در کمیسیون حقوق بشر اغاز به کارنمود؟

ج: بخش حمایت از حقوق اشخاص دارای معلولیت از سال 2005 بدینسو در کمیسیون مستقل حقوق بشر افغانستان ایجاد گردیده و تا اکنون در هشت دفتر ساحوی ما این بخش به فعالیت های آگاهی دهی، داد خواهی و نظارت از حقوق بشری اشخاص دارا ي معلولیت مصروف کار و فعالیت میباشند. مبنای تشکیل بخش حمایت از حقوق اشخاص دارای معلولیت را همانا قانون تشکیل وصلاحیت های کمیسیون مستقل حقوق بشر افغانستان که در ماده بیست ویکم و ماده بیست وششم آن قانون میباشد. از طرفی میدانیم که حد اقل به تعداد 840000 از اشخاص دارای

معلولیت های شدید بوده و جنگ های سی ساله تا اکنون هم بر علاوه عوامل دیگر معلولیت ایجاد می کند و این تعداد اشخاص ضرورت دارند تا از برنامه های دولتی و موسسات که تحت این عنوان کار مینمایند دوباره توانبخش شده و خدمات لازم برای شان انجام شود و این زمانی میسر میشود که دولت مکلفیت های خود را در مقابل با ساختن و تطبیق قوانین به نفع اشخاص دارای معلولیت انجام دهد و این زمانی میسر است که مشکلات وضرورت های این اشخاص برجسته شده و حقوق شان از طریق رسانه های جمعی وغیره بلند شده وبه سمع مسولین، مردم و خود اشخاص دارای معلولیت رسانیده شود با این اساس کمیسیون مستقل حقوق بشر افغانستان این ضرورت را احساس نموده وبرای نظارت حمایت و انکشاف حقوق بشری این اشخاص يك بخش را در هشت دفتر ساحوی خود ایجاد نموده است و هم اکنون به اساس درخواست های مکرر اشخاص دارای معلولیت در سال روان در چهار دفتر ولایتی نیز این بخش شروع به کار وفعالیت نموده است.

س: کدام فعالیت ها تا اکنون برای اشخاص دارای معلولیت در این بخش صورت میگیرید؟

ج:فعالیت های که در این بخش انجام شده است تدویر برنامه های آگاهی دهی است که تا اکنون هزاران نفر از کتگوریهای مختلف از افراد جامعه در مورد حقوق اشخاص دارای معلولیت آگاهی حاصل نموده اند، مصاحبه ها رادیویی و تلویزیونی در ولایات تحت پوشش فعالیت دیگری است که در مورد حقوق اشخاص دارای معلولیت صورت گرفته است. تهیه و نشر پوستر ها، بلبوردها، فلم ها، سپات ها و نشر ان از طریق رسانه های جمعی و تهیه جزوات در مورد وضعیت و حقوق بشری اشخاص دارای معلولیت، فعالیت دیگری است که در راستای برنامه های آگاهی دهی صورت گرفته است و ادامه هم دارد. تهیه و نشر ماهنامه به خط بریل در سطح سه دفتر ساحوی يك فعالیت خوب و قابل یاد اوری است فعلا در سه دفتر ما یعنی هرات، مزار شریف و کابل این ماهنامه با نشر مطالب حقوقی چاپ و در اختیار نهاد ها و انجمن های نابینا قرار داده میشود که بدون شك نشر این ماهنامه اغاز يك فصل جدید در عرصه اعاده حقوق کتگوری های مختلف اشخاص دارای معلولیت می باشد.

داد خواهی برنامه دیگری این بخش است که امریت هایی بخش در تمام دفاتر کوشیده اند که با ایجاد کمیته های دادخواهی همراه با نهاد های مدنی و سایر نهاد هاي ذیربط مبادرت به ایجاد کمیته های داد خواهی در مورد حقوق اشخاص دارای معلولیت بورزند که نتایجی خوبی را ما در این باره داشته ایم و صرف به دو مورد دادخواهی های که نتیجه بخش بود اشاره می کنیم: نخست از دست آورد داد خواهی ما تصویب کنوانسیون حقوق اشخاص دارای معلولیت و الحاق رسمی کشور به این کنوانسیون بوده و دوم تصویب قانون حقوق و امتیازات اشخاص دارای معلولیت در پارلمان کشور و تعدیلات لازم در برخی از مواد این قانون به نفع اشخاص دارای معلولیت را می توان نام برد. ایجاد فرصت های شغلی در مزار شریف از طریق ایجاد غرفه ها و ایجاد و تاسیس مکتب معلولیت در ان ولایت یکی دیگر از نمونه های دادخواهی موثر ما است که يك جا با نهاد های همکار انجام شده است.

موضوع سومی نظارت از وضعیت اشخاص دارای معلولیت است که تا اکنون در مورد مشکلات اشخاص دارای معلولیت در سطح خانواده و جامعه و اخیراً گزارش از حق دسترسی فزیکی به اماکن عامه را میتوان نام برد که هر يك از این گزارش ها دارای پیشنهادات مشخص در مورد جا های خاصی بوده و دولت باید در زمینه تطبیق ان گام های مثبت بردارد.

س: فعالیت های که تا اکنون در این مورد انجام شده کدام نتیجه مطلوب بدست آمده است یاخیر؟

ج: به طور یقین می توانم بگویم فعالیت های که این بخش انجام داده است نهایت مفید ومؤثر بوده است از جمله موضوعات قابل یاد اوری عبارت از تغییر نسبی در سلوك مردم و شناسایی حقوق يك شخص دارای معلولیت و احترام به منزلت و کرامت شان در سطح جامعه و مردم ومسولین دولتی می باشد و جلوگیری از القاب زشت و ناروا یکی دیگر از دست اورد این برنامه ها بوده است البته در کنار ما اعضای نهاد های مدنی فعال در عرصه معلولیت نیز نقش عمده ای داشته است.

عطف توجه دولت به موضوع معلولیت و مشکلات انها در حوزه صحت، تعلیم و تربیه، کار واشتغال، دسترسی به محیط قابل دسترس، ایجاد مکاتب خاص برای نابینایان و ناشنوایان و هم شامل سازیی اطفال دارای معلولیت در مکاتب عمومی از مواردی اند که از جمله نتایج فعالیت های مشترك ما با نهاد های مدنی و سایر فعالین حقوق بشری می باشد.

س: طوریکه ما درجریان هستیم شما عضوکمیته دادخواهی اشخاص دارای معلولیت هم میباشید در مورد فعالیت کمیته معلومات ارایه بدارید؟

ج: بلی من هم عضو کمیته داد خواهی حقوق اشخاص دارا ی معلولیت بوده و در ضمن از مدت سه سال به این طرف سکرتریت این کمیته رانیز بدوش دارم،این کمیته دارا ی طرز العمل وپلان عملی سالانه بوده و مطابق ان فعالیت های خود را همرای اعضای ان کمیته به پیش میبرند و دست آوردهای خوبی را این کمیته داشته است که میتوان از تصویب قانون حقوق و امتیازات اشخاص دارای معلولیت، تصویب و الحاق افغانستان به کنوانسیون حقوق اشخاص دارا ی معلولیت ، الحاق افغانستان به کنوانسیون منع استفاده از مهمات خوشه ای، پیشنهادات برای تعدیلات لازم در قانون حقوق و امتیازات اشخاص دارا ی معلولیت، ارایه پیشنهادات د رمورد قانون انتخابات به شورای ملی، دیدار با وزراء و کمیسیون های مجلسین شورای ملی میباشد.

س: پیام شما به نهاد های که دربخش معلولیت فعالیت دارند چیست؟

ج: پیام من به نهاد های محترم که در بخش معلولیت کار و فعالیت مینمایند این است که پروژه هایی را برای این اشخاص در نظر بگیرند که برای اشخاص دارای معلولیت مفید باشد و مطابق ضرورت های روزمره و باعث خود کفایی اشخاص دارای معلولیت گردد. با تمویل کننده ها نیز در این مورد صحبت نموده و از تطبیق پروژه های تکراری جلوگیری نمایند و هم چنان وزارت کار امور اجتماعی، شهدا و معلولین را نیز در زمینه داشتن برنامه های که به نفع اشخاص دارای معلولیت است تشویق نمایند و در این زمینه داد خواهی نمایند.

س: برای اشخاص دارای معلولیت چه پیام وگفتنی دارید؟

ج: برای برادران و خواهران دارای معلولیت میخواهم از طریق مجله شما عرض کنم اینکه: شما به توانمندی های تان باور داشته باشید اگر طفل دارای معلولیت هستید دنبال تعلیم وتحصیل بروید و اگر جوان هستید دنبال آموزش حرفه مناسب باشید و اگر سنی از شما گذشته است باز هم دنبال آموزش فن و حرفه مناسب تان بروید تا خود کفا شوید. تعلیم و تحصیل حق همه است و کوشش نمایید که به حقوق قانونی تان اشنایی پیدا کنید و براي تطبیق ان داد خواهی نمایند و حق خود را مطابق قانون مطالبه نمائید و از اعمال خشونت آمیز جدا پرهیز نموده زیرا خواست های که ضمانت قانونی داشته باشد، باید از طریق مراجع ذیربط به انها رسانید و این زمانی میسر است که اولا شما به حقوق قانونی تان اشنا شوید و بعدا آنرا با مراجع ذیربط مطرح نموده و خواهان اجرای آن شوید، تنها به شخص خود فکر نکنید بلکه به فکر همه برادران و خواهران دارای معلولیت تان بوده و از طریق تشکیل اتحادیه ها و انجمن ها از سایر برادران و خواهران که تا هنوز از مزایای قانونی شان مستفید نگردیده اند حمایت کنند و بهتر آن خواهد بود که با تشکیل يك فدراسیون ملی و یا اتحادیه سراسری بیشتر به نفع اشخاص دارای معلولیت کار وفعالیت تان را متمرکز ساخته و دین شان را در مقابل مردم و میهن ادا نمایند.

س: درمورد چاپ ونشرمجله گدون نظرشما حتمی میباشد؟

ج: مجله گدون در معرفی چهره های نمونه و شاخص از اشخاص دارا ی معلولیت و نشر مطالب جالب و خواندنی معلوماتی در زمینه تنویر اذهان جامعه نقش خوبی را ایفا نموده و ضرورت است که این مجله پوشش وسیع پیدا کند و در دسترس همه اشخاص دارا ی معلولیت و نهاد های انها قرار گیرد. و خواهش دیگر من از دست اندرکاران نشریه متذکره اینست که با نشر پیام های مشوق اطفال دارای معلولیت به درس و تعلیم گردیده و ضرورت مبرم ان را به عنوان يك حق قانونی این قشر اسیب پذیر مطرح نمایند و چالش های فرا روی انها را نیز برجسته سازند و حال که کشور افغانستان نیز عضو کنوانسیون حقوق اشخاص دارا ی معلولیت است در زمینه رفع آن مشکلات باید وزارت های سکتوری گام های مثبت و جدی را بردارند.

س: به عنوان سوال اخیر آیا شما در مورد فعالیت های موسسه انکشاف وتوانایی معلومات دارید؟

ج: در مورد سوال شما در باره موسسه انکشاف و توانایی باید بگویم که بلی من با فعالیت ها این دفتر از مدتی مدیدی اشنایی دارم زیرا ایشان عضو موسس و فعال کمیته داد خواهی حقوق اشخاص دارای معلولیت نیز میباشند و مجله گدون ، نشر برنامه های آگاهی از طریق رادیو ها و تلویزیون ها و اداره و پیشبرد مرکز اورتوپیدیك در ولایت کنر و نورستان و سایر برنامه های آگاهی دهی و داد خواهی شان را میتوان بر شمرد. این فعالیت ها برای ترویج و تعمیم حقوق بشری اشخاص دارا ی معلولیت نهایت مثمر و مفید بوده است . علاوتا تهیه چاپ و نشر ترمینالوژی ملی معلولیت یکی دیگر از فعالیت های این نهاد بوده که برای استفاده عام مفید بوده است ومن برای شان مؤفقیت های مزید را از خالق منان استدعا دارم.

# معلومات مختصر د رمورد مرض میرگی (Epilepsy)

**میرگی:**
صرع یا(Epilepsy) به ان حالت تشویش اطلاق میشود که مشخصا دارای حملات متکرر اختلاجات باشد.
اختلاج عبارت از تشویش وظیفوی دماغ است که گذری میباشد به سبب(Discharge) غیر نارمل واشتدادی در دماغ میرگی یک تشویش عام است که در ایالات متحده امریکا٪۵،. تمام نفوس به ان مبتلا میباشد.

**اسباب**
میرگی دارای اسباب زیاد میباشد که انرا بطور خلص در ذیل تشریح مینماییم.
**الف:سبب نامعلوم:**
سبب ان معلوم نمیباشد و در بین سنین ۵ ـ۲۰ساله به میان میاید مگر بعضی وقت میتواند در سنین بالاتر هم پیدا شود سبب مشخص ان تعین شده نمیتواند.
**ب:میرگی عرضی:**
در این جا اسباب مختلف برای اختلاجات متکرر موجود است.
1.تشویش ولادی و ترضیضات جریان ولادی که میتواند منتج به اختلاجات در دوره طفولیت گردد.
2.تشویشات میتابولیک ترک الکول و مواد مخدرنیزیک سبب عام اختلاجات متکرر میباشد و نیز تشوشات دیگر میتابولیک مانند:
یوریما()پائین بودن یا بالا بودن شکر خون شاید مسول ان باشد.
**3.ضربه یا(Trauma):**
در تمان سنین یک سبب عمده میرگی میباشد به خصوص در جوانان.

# مور

**عبدالباقی بریال**

مور په یوه لاس که زانګو په بل جهان زنګوي
دا نوراني پرښته ګوره چې انسان زنګوي

هغه سپېڅلی پرې باران د رحمتونو اوري
هغه دمینې په هر تال کې یو ارمان زنګوي

هغه رنځوره او کم ځانه خو ځواکمنه ګوره
هغه مو حال که مستقبل او تېر زمان زنګوي

مورپه تاریخ کې د بریاوو نا اشنا اتله
چې د ویاړونو او برمونو هر داستان زنګوي

دا بشریت ته دخالق هغه معصومه ډالۍ
چې یې دمینې یو نظر ځمکه اسمان زنګوي

هسې یې مه ګڼه جنت د قدمونو لاندې
دا دماشوم په زړه کې وړانګې دایمان زنګوي

بریاله!ستا غزل د مور هغه رنځوره مسکا
چې دسپېدوپه لور د ستوریو کاروان زنګوي

# له معلولیت څخه مخنیوی

- د معلولیت د پیښیدو مخنیوي
- د اوسني معلولیت د لا زیات خرابیدو مخنیوي
- د معلولیت لرونکو وګړو باندې د ټولنې د وضع شوي محدودیتونو مخنیوي

**۱- د معلولیت مخنیوي:**

دیته لومړني مخنیوي هم ویل کیږي، په دې معنی چې د فزیکي، علمي، رواني او حواسي معلولیت د پیښیدو د مخنیوي لپاره فعالیت په لار اچول کیږي، ددې فعالیت موخه داده چې د معلولیت د پیښو شمیره کمه کړل شي.

هغه پروګرامونه چې بیوزلي له منځه یوسي، او روغتیا او خوراک ته پراختیا ورکړل شي، او دامیندواري په دوران او وروسته په کافي کچه روغتیای پاملرنه وشي، شونې ده چې د ډیرو معلولیتونو مخنیوي وشي.

د لومړني مخنیوي مثالونه چې د روغتیا د سکتور په چوکاټ کې دي په لاندې ډول دي:

**۱.۱- ارثي مشورې:** ډیرې ارثي بې نظمي د پیدایښت تر وخته نه ښکاري، ارثي مشورې کولای شي چې په یوه کورنۍ کې د ارثي بې نظمیو مخه ونیسي. خو د هغه مور او پلار لپاره چې ارثي بې نظمي لیږدوي، یو ستونزه جوړه کړې چې د نور اولادونو غوښتونکې هم وي.

**۱.۲ معافیت:** د معلولیت د لومړني مخنیوي لپاره معافیت ډیر مهم دي

د هغه ډول معلولیت په کمولو کې چې د میندو له انتاناتو او یا د هغه انتاناتو له امله چې د ماشومتوب په وخت کې رامنځ ته کیږي، معافیت ډیر لوی رول لوبولای دې.

ماشومان باید د عمر په لومړیو کې د معافیت له خدمتونو برخمن شي. د توري ټوخلي نیمای مړینې، د پولیو یو په درې مړینې او د سرې ځلورمه برخې مړینې دیو کال څخه په کم عمر ماشومانو کې وي.

دا لازمه ده چې نوې پیدا شوي ماشوم د معافیت ټوله دوره په مکمله توګه پوره کړي- که نه نو واکسینونه به اغیز ونکړي.

که د کومې ستونزې له امله یو ماشوم د معافیت مکمله دوره د عمر په لومړې کال کې پوره نکړه. دا ډیره مهمه ده چې ژر تر ژره اړونده واکسینونه پوره کړی د مثال په توګه د واکسینونو د ملي ورځې په جریان کې.

**۱.۳ Amniocentesis:** امنیو سنتیزیز د امیندواري میرمنې د امنیوتیک د مایع راویستل او ارزونه ده څو د امیندواري په لومړیو پړاونو کې د ډیر شمیر معلولیتونو په کشفولو کې مرسته وکړي.

Amniocentesis هغه ښځو ته چې د ډیر عمر لرونکې وي (له ۳۵ څخه ډیر عمر ولري) ته راجع کیږي، ځکه چې دوی د معلولیت لرونکي ماشوم د زیږولو له ډیر خطر سره مخ دي. ډیر شمیر مور او پلار دغه عمل د احساساتي، عملي او مالي ستونزو څخه دساتنې وسیله ګڼي چې د معلولیت لرونکي ماشوم د اوږد مهالې مراقبت په چمتو کولو کې لګول کیږي..

**۱.٤ نوري لومړني مخنیوني:** په پرمختیایي هیوادونو کې د معلولیت د ډیرو لاملونو مخنیوې شوني دي. د بښې په توګه کیدای شي چې جګړې بندې شي او یا یې مخه ونیول شي. کمزورې روغتیایې حالت ته وده ورکړل شي . د مور او پلار د پوهاوي کچه لوړه شي. او د معافیت خدمتونو معرفي شي. په افغانستان کې د معلولیت د مخنیوي لپاره د ټولنې په کچه لاندې کارونه د ټولنې د روغتیای کارکونکو او نورو له لوري چمتو کیدای شي:

- د ماین د پوهاوي معلومات
- د روغتیای موضوعاتو په اړه د خلکو په ځانګړې توګه د ښځو پوهونه
- د تغذیې او د ماشوم د ودې په اړه د مور او پلار د پوهاوې په برخه کې کار کول
- ددې یقیني کول چې ټول ماشومان په ځانګړې توګه په کلیوالو سیمو کې د پولیو او نورو انتاناتو په وړاندې واکسین شوي دي.
- خوراکي مشورې



## ۲.  د اوسني معلوليت د لا زيات خرابيدو مخنيوی

د اوسني معلوليت د لا زيات خرابيدو مخنيوې ته ثانوي مخنيوې وايي، په دې معنا چې د معلوليت د پرمختيا څخه په داسې ډول مخنيوې وشي چې دايمي وظيفوي محدوديت او معلوليت را منځ ته نشي. په دې توګه د ثانوي مخنيوې موخه د معلوليت د اغيز کمول دي. ډيرې هڅې د فزيکې بيارغوني، او د ليد او اوريدو معلولينو او همدارنګه د هغه کسانو لپاره چې د زده کړې معلوليت لري، مناسبې روزنې د ثانوي مخنيوې هڅو په توګه پيژندل شوي دي

فزيوتراپي د معلوليت  په مخنيوي اود معلوليت لرونکو وګړو په بيارغوني  کې مهم رول لري او په پرتليزه توګه کم مالي لګښت پرې راځي.

د معلوليت د مخامخ کيدو سره په وخت مداخله لازمې ده. په دې معنا څومره ژر چې معلوليت په ګوته شو، نو درملنه او بيارغونه دې پيل شي، څو دا يقيني شي چې د معلوليت د لا زيات خرابې مخه نيول شوې ده. د بېلګې په توګه هغه ماشوم چې دماغې ګوزڼ لري، مونږ بايد دا يقيني کړو چې ماشوم ته مناسب موقعيت ورکړل شي، که نور څه ونشي، نو ماشوم به په يو بد موقعيت کې وده وکړي، چې وروسته به يې  اصلاح ستونزمنه وي. د هغه ماشوم چې Clubfoot لرې بيارغوني په اړه يې د مخه خبرې شوي دي.

په لومړيو پړاونو کې مداخله تر ډيرې کچې په پوهاوې پورې تړاو لري، په ځانګړې توګه د والدينو پوهاوې چې بايد په دې پوهه شي چې ماشوم يې په کومه کچه چې هيله کيږي وده نه کوي. د بېلګې په توګه، که چيرې يو کس د ستون فقرات ټپ لري، فزيوتراپي لاندې مرستې کولای شي:

- په بستر او يا چوکې کې د خوځښت د توان نه لرلو  له امله د تقبض او د بستر له ټپ څخه مخنيوې کوي.
- د شخص د خوځښت توان ته پراختيا ورکول
- د کم خوځښت له امله چې فعال اندامونه کمزوري کيږي، مخنيوي کول او د فزيکې تمرينونو روزنه ورکول.
- د تنفسي ستونزو مخنيوې کول (د تنفس کم حجم، د سږو د افرازاتو ليرې کول).
- د حالت د اوږد مهالې مديريت لپاره شخص او کورنۍ ته د معلوماتو ورکول.

## ۳. د معلوليت لرونکو وګړو باندې د ټولنې د وضع شوي محدوديتونو مخنيوی

دا ډول مخنيوې ته ثلاثي يا د دريم پړاو مخنيوې وايې. د ثلاثي مخنيوې موخه داده چې د مناسبو خدمتونو او مداخلو له لارې له هغه خلکو سره مرسته او ملاتړ وکړې چې معلوليت لرونکې دي، څو معلوليت ددوې په ژوند کم اغيز ولري.

په دې معنا چې زده کړو، کار او ټولنيز ژوند ته په عمومي توګه لاس رسې لرل. دا کيداې شي چې د فزيکې بيارغونې وروسته په لار واچول شي. د بېلګې په توګه کله چې يو کس چې پښه يې قطع شوي وي، مصنوعې پښه ورته ورکړل شي. او د مصنوعې پښې سره يې دقدم وهلو روزنه تر لاسه کړې ده، او بيا هغه کور ته تلاې شي، کار پيدا کړي او بيا په کورنۍ کې خپل موقف تر لاسه کړې.

دا ډيره مهمه ده چې په ياد ولرو چې د بيارغونې کارکونکو، والدينو او د معلوليت لرونکو وګړو ورځني لومړيتوبونه  که چيرې مخالف نه وي خو ډير توپير به سره ولري.  د 5.3.1 لاندې شميرې او بحث وګورئ.



# څو په باغ کې لا یو ګل د نوبهار شته

## غـزل

**هجرت الله اختیار**

ژوند دې بلې شمعې او یا هم ډیوې ته ورته ده
ستا د درد کیسه زما د زړه کیسې ته ورته ده

پام! د تنهایۍ د یخو شپو دې راته مه وایه
پوه یم، هره شپه دې د زندان و شپې ته ورته ده

څه کې دې قدم د زماني په قدم سم نه دی
ستا خو سپېڅلتیا ګلې د (بلخ رابعې) ته ورته ده

ښه ده چې د زړه خبر دې شونډو پورې رانه شي
خوله دې پرې سوځېږي، دا خبر لمبې ته ورته ده

شکر چې دې زړه نه د اوهامو دوړې پاکې دي
څه دېوال ته دربږه، اوس دېوال اینې ته ورته ده

تنده به دې ما ته کړي، خو اب حیات نه لري
ستا اختیار خو ګرانې! غرنۍ چینې ته ورته ده

## غزل

**یاسمین وزیري**

ستـا یـادونـه بـې وفـا مـا ژړوي
تـېروختـونـه دې اشـنـا مـا ژړوي

چې بـه راغـللي دیـدن تـه پـه خندا
لـکـه ګـل هـغـه مـوسـکا مـا ژړوي

همـېشـه بـه د وفـا خـبرې کـړې تا
اوس نـو هـغـه شـېبې بـیا مـا ژړوي

راتـه ویـل دې چـې یـوازې بـه زه ستا یم
نـن دې خـوب کـې دا ویـنا مـا ژړوي

هـره شپه مـې ستا پـه یـاد کـې سبا کېږي
تـه چـې نـه یـې، هـر سبـا مـا ژړوي

ټـول عـالم راپـورې خـاندي مسخرې کړي
یـو تـه نـه، ټـولـه دنـیـا مـا ژړوي

# کـرم د خپل وجــود خواږه غــړي په پاکې خــاورې!
# گوندې که سیورې ته دمه یې شي کوم ستړی افغان











# ګډون او لوستونکي

**پوهنیار محمد داوود (منګل)**
**د پکتیا پوهنتون دژبواو ادبیاتو پوهنځي استاد:**



څنګه چې په اوسني مهال کې زموږ د هیواد په بېلا بېلو سیمو کې په زیاته اندازه انځوریزې، غږیزې او چاپي رسنۍ په بېلابېلو نومونو فعالیت کوي. همدارنګه ددغو رسنیو په لړ کې یوه هم د ګډون مجله ده، چې ادبي، تاریخي، فرهنګي اوورداسې نورو موضوعاتو ترڅنګ د معلولینو د معلولیت په هکله په ښتینوالی ولاړ مطالب خپروي، چې په لوستو سره یې د لوستونکی په ذهن کې د معلولینو د مرستې او خواخوږۍ انګیزه پیاوړې کوي . زما په اند ددې مجلې د کامیابۍ راز د همدا ډول مطالبوپه خپرولو کې نغښتی دی او د نورو رسنیو مسوولینو ته هم سپارښتنه کوو،چې د خپلو رسنیو په پروګرامونوکې د معلولینو د ستونزو په هکله ځانګړي مطالب خپاره کړي، ترڅو ددې لارې نه ددوی ستونزې او غوښتنې د مسوولو کسانو تر غوږو ورسېږي ځکه چې زموږ د افغاني ټولنې ډېر وګړي نارینه، ښځینه، بوډاګان او ځوانان د جهاد په مهال او له هغه را وروسته د بې مفهومه، وحشیانه، خپل منځي جګړو په وخت کې شهیدان او معلول شوي، چې د معلولیت له مهال نه نیولې تر نن ورځې پورې په ټولنه کې دبېلا بېلو ستونزو اوکړاوونو څخه ډکې شپې ورځې په خوراب حالت کې تېروي،خو ددوی د ستونزو دلرې کولو لپاره نه دولتي او نه په اصطلاح خیریه موسساتو داسې ګامونه پورته کړي، چې د دوی د مشکلاتو درملنه پرې شوې وي .

په دې برخه کې باید دومره ووایم چې معلول زموږ د ټولنې یو ټولنیز بشري موجود دی، نو لازمه ده چې ددوی د ستونزو د حل لپاره دولت او خیریه موسسات داسې ځانګړي حرفوي پروګرامونه جوړ کړي، چې هغوی وکولای شي د یو فعال او سالم انسان په توګه د ټولنې په خدمت کې اغېزمن رول ولوبوي او هم په راتلونکې کې په ځان بسیا اود یو ښېرازه ژوند خاوند شي.

په پای کې د ګډون مجلې له ټولو کارکوونکوڅخه دزړه له تله مننه کوم، چې دمعلولینو غوښتنې او د هغوی ستونزې په لازم وخت کې د اسلامي او افغاني احساس او انساني خواخوږۍ له مخې له اړوندوچاروکوسره شریکې کړي ، څو وکولای شي ددغو مظلومو او محدودیت لرونکو وګړو لپاره دحکومت او ولس لازمه پاملرنه را وګرځوي .

**پوهیالی کمال الدین کمال د پکتیا پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځي د پښتو ژبې او ادبیاتو څانګې استاد**

څه د پاسه درې لسیزو جنګ جګړو د افغانستان زیاتره وګړي شهیدان، معلولین او له خپلو سیمو څخه بېځایه کړل او اوس هم په بمي چاودنو کې خپل قیمتي ژوند یا د بدن غړي له لاسه ورکوي. له دې امله په افغانستان کې په لکونو نارینه او ښځینه معلولین ژوند کوي، خو حقوقو ته یې د ټولنیزو خیریه مؤسیسو ، دولت او



عامو خلکو له خوا ډېره کمه پاملرنه کېږي. د دولت له خوا چې د معلولینو لپاره کوم میاشتنی معاش ټاکل شوی، د معلولینو په وینا د هغوی ورځنۍ اړتیاوې نشي پوره کولای. په ټولنه کې د ځینو وګړو له خوا معلولینو ته د حقارت په سترګه کتل کېږي، حال دا چې معلولین په ټولنه کې د ټولنې د نورو وګړو په څېر د ژوند او کار کولو حق لري.

((ګډون)) هغه مجله ده، چې د دوی غوښتنې، آرزوګانې او د زړه غږ تر دولتي چاراوکو، خیریه مؤسیسو او عامو خلکو ته رسوي او هغوی د معلولینو له ستونزو او اړتیاوو څخه خبروي. زه پخپله د ((ګډون)) مجلې مینه وال یم او مطالب یې لولم. د معلولینو په باب ډېر په زړه پورې مطالب پکې خپرېږي. خو د یادې مجلې د مطالبو د لا ښه والي لپاره د نوموړې اداري ته یو څو وړاندیزونه لرم:

له ځرنګه چې دا مجله یوازې د معلولینو لپاره ځانګړې شوې، نو په دې مجله کې دې یوازې هغه مقالې خپرې شي، چې د معلولینو د ژوند ربښتینې انعکاس وړاندې کړي.

په یاده مجله کې دې یوه یا دوې مقالې د معلولیت په باب عامه پوهاوي ته ځانګړې شي.

په ((ګډون)) کې د خپرېدونکو مقالو په برخه کې دې د ژبې په لحاظ انډول همداسې برقرار وساتل شي.

یوه مقاله که د باسواده معلولینو لپاره د انګریزي او کمپیوټر په باب معلوماتو ته ځانګړې شي، زما په نظر ښه به وي.

**نازنین میلان هستم متعلم صنف دوازدهم لیسه صوفی محمد اسلام**



من یکتن از علاقمندان مجله ګدون میباشم نشریه نامبرده طوریکه از نام اش پیداست یک نشریه بسیار خوب دارای محتویات با ارزش میباشد بهتر اینکه استعداد های اشخاص دارای معلولیت از طریق این مجله انعکاس داده میشود، منحیث یک خواننده مجله ګدون از دست اندرکاران این نشریه تقاضا دارم که چاپ ونشر مجله را وسعت دهند و سهمیه برای شاګردان معارف نیز درنظرګرفته شود تا شاګردان به حقوق اشخاص دارای معلولیت احترام بګذارند ودربعضی عرصه ها با انها کمک وهمکاری نمایند.



# معلولین چه میگویند؟

زه محمد اسماعیل د کنړ ونو ولایت د خاص کونړ ولسوالۍ اوسېدونکی یم، چې په ۱۳۷۰ هـ کال کې زیږېدلی او په ۱۳۷۵هـ کال کې په دواړو پښو فلج(پولیو) شوم چې په هغه وخت کې د جنګ، جګړو او لارې د بندېدو له امله زما کورنۍ ونشو کړی چې زمادرملنه وکړي. نو له همدې کبله تر اوسه معلول یم،د کوچنیوالي نه مې د ښوونځي سره ډېره مینه درلوده خو څنګه چې زمونږ سیمه یوه اطرافي سیمه ده نو د لارې د نشتون له امله ما و نه شوکولای چې ښوونځي ته لاړ شم.ما خپلې هڅې ته دوام ورکړ او په کور کې مې دیني زده کړې پیل کړې چې د قران شریف ترجمه او نور د حدیثو او فقې کتابونه مې زده کړل.په ۱۳۸۵هـ کال کې زمونږ په کلي کې یو سړک جوړ شو چې د دې سړک په رامنځ ته کېدو سره ما ځان د ښوونځي په(۷) ټولګي کې شامل کړ او په لومړي درجه بریالی هم شوم چې په ۱۳۹۰ کال کې د خاص کنړ د عالي لېسې څخه عمومي اول نمره فارق شوم.

سره له دې چې ما ډېرې ستونزې درلودې چې مهمه یې زمونږ د کور او ښوونځي تر منځ واټن و چې ۴کیلو متره و،سره له دومره ستونزو څنګه چې له مکتب فارغ شوم نو په همغه کال مې کانکور ازموینه هم ورکړه او د ۲٦۸ نمرو په اخیستلو سره مې و نشو کولای چې د خپلې خوښې پوهنځي ته لار پیدا کړم او بې نتیجې پاتې شوم. بیا مې هم همت له لاسه ور نکړ په دویم کال مې بیا د کانکور ازموینه ورکړه چې په ۲۵۰ نمرو د ننګرهار پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځي ته بریالی شوم،خو د معلولیت په لحاط مې دادبیاتو پوهنځي ته زړه ښه نکړ.نو د تېر کال په نمرو سره د کابل پوهنتون د امادګۍ پوهنځي ته راغلم،غواړم چې د خپلې خوښې پوهنځي ته یعنې طب یا کمپیوټر ساینس ته لار پیدا کړم او د هیواد او د معلولینو د خدمت مصدر وګرځم.

زما پیغام ټولو ځوانانو ته او په ځنګړي توګه ټولو معلولینو ته دا دی چې خپل همت د لاسه ور نه کړي او خپلې زده کړې ته دې دوام ورکړي او د ژوند په هرډول ستونزې کې ځان نا هیلی ته و نه سپاري.



# بت های بزرگ بامیان

بت بزرگ بامیان که بزرگ ترین تندیس در جهان ثبت گردیده بود ۵۳ متر ارتفاع داشت و صلصال نام داشت. بت کوچک که به نام شمشال یاد میگردید ۳۵ متر ارتفاع داشت. بت های کوچکتر دیگری نیز در دل کوه در اطراف آنها تراشیده شده بودند که همچنان از عهد کوشانیان بر جا مانده بودند.

افغانستان، بنابر موقعیت حساس و مهم ژئو پولیتیک و قرار داشتن در مسیر راه معروف ابریشم، همواره شاهد لشکر کشی ها و تاخت و تاز ها بوده و در عین حال از فرهنگ های پر بار آریایی، یونانی، کوشانی و بودایی فیض گرفته است.

در عصر آشوکا، که در میانه سدهء سوم ترسایی در هند حکم می راند، بودیسم وارد افغانستان شد. قرار روایات، در آن زمان بود که یک مکتب هنری به نام گندهارا ایجاد گردید. کانون گندهارا در اطراف جلال آباد امروزی قرار داشت.

سپس کانیشکا بود که در سدهء دوم پس از میلاد، پس از گرایش اش به سوی بودیسم، افغانستان را به محل آفرینش و گسترش فرهنگ بودایی تبدیل ساخت. او، از گرونده گان و پشتیبانان نستوه بودیسم بود. در دوران حکمروایی کانیشکا (۱۲۰ -۱۶۰ م)، گندهارا یک مکتب هنری تندیس سازی و ادب بودایی بود.

سرزمین افغانستان از اولین سرزمین های بود که در آن بودا به حیث مظهر آرامش، زیبایی، مهربانی در فرم بشر اما کامل و بدون کوچک ترین عیب تراشیده شد. بوداییان بر حسب چهار حقیقت شریف بودیسم که از این قرار اند: عشق و محبت(متا)، ترحم و شفقت(کارونا)، خیر خواهی(مدیتا)، و شکیبایی(اپیکا) از بودا الهام میگرفتند.

طالب ها، تندیس های بودا را مظهر بی دینی می پنداشتند. آنها کوشیدند تا از عقب طرح نابودی بت ها، تشنج مذهبی و رویارویی با دیگر ادیان را دامن زنند.

طالبان با درک نادرست از این فکر تاریخی که سلطان محمود غزنوی بت شکن بود، خواستند پیام غلط به مسلمین بدهند که آنها نیز بت شکنان و مسلمانان با دیانت اند. بر همین پندار آنها تضعیقات را بر هموطنان هندو و سکهـ ما روا داشتند و آخرین یهودی را مجبور به ترک وطن کرده و درِ آخرین کنشت کابل بسته بستند.

سلطان محمود غزنوی بت شکنی را، اول ، هم به غرض توسعهء دین اسلام و هم زراندوزی و چپاول گنج های هند به راه انداخت ،در همان حالی که وی به فتوحاتش برای فی سبیل الله ادامه میداد، هیچگاه عزم بر این نکرد تا بت های بامیان را ویران سازد. سلطان محمود، که در دربارش دوهزار شاعر و سخنور حضور داشتند، عاقلتر از آن بود تا به بت های بامیان که سده ها در جایگاه شان خاموشانه نظاره گر «کمدی های انسانی» بوده اند، آسیب برساند. او میدانست که هم عظمت کوشانیان به صفحهء تاریخ پیوسته و هم زائران و مردم باورمند به دین بودا به دور جا ها کوچیده اند.

الگوی دیگر طالبان، امیر عبدالرحمن بود که باری بت ها را به توپ بست، اما گلوله های وی یارای فروریزی بت ها را از دل کوه نداشت. به همین خاطر برای « امر ثواب» به سرکوب هزاره ها و و ادار سازی کافرستان به نورستان مبادرت ورزید.

تندیس های بامیان کی ها بودند؟

در آثار پژوهشی جغرافی و تاریخی متقدمین چه غربی و

چه شرقی این تندیس ها بنام ( سرخ بت ) و ( خنگ) بت یاد گردیده است.
ما میدانیم که حضرت بودا، چنان که نهرو در کتاب کشف هند می نویسد: ( سیدهارتا) نام داشت . محمد تقی بها در کتاب "بهار ، و ادب فارسی" نام بودا را (سدهان نا) و لقب او ( سکیامونی) به معنی "علم نفس خویش" و لقب دیگرش را(بُدا) می نامد. و صحیح اسم بودا را (بوذاسب) می شمار. به نظر می رسدکه آنچه که نهرو می نامد درستتر باشد ( سیدهارتا) نام وی بوده و درسایر کتب نیز به همین نام یاد گردیده است. شادروان بهار شاید به خاطر کلمه{سید} ، او ( سدهان نا) ساخته است. لقب سیدهارتا، یعنی بودا چنانکه در لغت نامهء دهخدا آمده است به معنی { بیدار، آگاه، زرنگ، خردمند} می باشد دهخدا نیز نام بودا را "سیدارتمه گوتمه" یاد می کند که نام خانوادگی او ساکیامونی بوده است.
بنابرآن، بودا که لقب سیدهارتا بوده ، در تاریخ به اسم خاص او تبدیل یافته است. چنانکه میدانیم اسم خاص تغییر ناپذیر است. نمی شود که احمد را محمود گفت و محمود را احمد نامید. بودا در تمام تواریخ بنام بودا یاد گردیده است.هیچ ممکن به نظر نمی اید که اگر تندیس ها بودا می بود ، آن را ( خنگ بت ) و یا ( سرخ بت ) بنامند. در این صورت خنگ بت و سرخ بت شخصیت جدا از بودا در بامیان بوده است.
همچنان این دو شخصیت را تمام لغت نامه ها و آثار جغرافیایی و تاریخی بنام خنگ بت و سرخ بت یاد می دارند. یاقوت حموی در معجم البلدان وقتی بامیان را معرفی میدارد می نویسد:
« بامیان شهر و خوره ای در کوهستان میان بلخ و هرات و غزنه است. دژی استوار و شهری کوچک در سرزمینی پهناور که از بلخ ده مرحله و از غزنه هشت مرحله دور است. خانه ای بلند بر ستونهای سر به آسمان کشیده و نقاشی شده در آنجا هست. که در آن از هرگونه پرنده نمونه ای در آنجا برای بازدید بیکاران نهاده اند. دو بت بزرگ و بلند نیز در آنجا در تنهء کوه کنده شده، یکی از آنها را سرخ بُد و دیگری راخینگ بُد خوانند، گویند در همهء جهان بی همتا است.»
بسیاری از شعرایی دیگر متقدم بر علاوهء عنصری ، از



سرخ بت و خنگ بت در بامیان نیز یاد نموده اند. خاقانی می گوید :

گر صبح رخ گردون چون خنگ بتی سازد
تو سرخ بتی از می بنگار بـــصبح انـــدر.

و یا در جای دیگر:

در کف از جام خنگ بت بنگر
بر رخ از باده سرخ بت بنگار

و یا سوزنی سمرقندی می گوید:

کردی میان سرخ بت بامـــــیان ستیـــخ
باشی بر آن که خنگ بتی را کنی به چنگ

و یا سیف اسفرنگی می گوید:

مـردم نادان اگر حاکـم داناســـــتی
شحنهء یونان بودی خنگ بت بامیان.

بهر روی با صراحت در تمام آثار و اشعار متقدمین این دو تندیس بنام خنگ بت و سرخ بت یاد گردیده و به یقین که اینها مجسمه های بودا نبوده اند.
دلیل دیگری که تندیس های بامیان بودا نیستند اینست



که: بودا مرد بود( نرینه) در حالیکه سرخ بت زن بوده (مادینه) . و همسر بودا که "یاشودا" ( yasodha ) نام داشت بودا نبود، بلکه پس از آنکه سیدهارتا به مقام بودایی میرسد ترک خانه و خانواده می کند. هیچگاهی همسر بودا در کنار وی دیده نشده است. در این صورت سرخ بت جز سرخ بت کسی دیگر نمی تواند باشد.

جالب این است شادروان احمد علی کهزاد در کتاب "آثار عتیقه بامیان" که داکتر فریار کهزاد فرزند ایشان آن را به نشر سپرده است. چنین وانمود می دارد که چون بت اول نامتناسب ساخته شده بود، پس در پی ساختن بت دومی شدند.

شاید نظر کهزاد در باره ء بی تناسبی بت اول و متناسب بودن بت دوم درست و بجا باشد. اما مسله این است که یکی از این تندیس ها نرینه و دیگری مادینه ساخته شده اند . من فکر نمی کنم اشتباه بدین بزرگی را پیکر تراشان که شاید صد ها سال روی آن کار کرده باشند، مرتکب گردند. که یکجا بودا را مرد و بعد آن را زن و یا برعکس بسازند. اشتباه میتواند در شکل به وجود آید اما در ماهیت غیر ممکن به نظر می رسد.

چیزی دیگری که کهزاد مرحوم تاکید برآن دارد . بودایی بودن کوشانیان و ساختن این بت ها در زمان کوشانیان می باشد. در حالیکه چنانکه خود در کتاب تاریخ افغانستان می نوسید در زمان کوشانی ها ادیان معین و مشخصی وجود داشته و تمام ادیان قابل قبول و احترام بوده است.

با ملاحظه تاریخ این واقعیت مسلم می گردد که که بخش غربی خراسان که بنام باختر یاد می گردید مردم باورمند، نخست به آیین میترایی و پس از ظهور پیغام آورخدا (پیغمبر) حضرت زرتشت به آیین زرتشتی گرائیدند. و قسمت شرق خراسان که هر بخش از آن بنام های مختلف مانند کابلستان ، کاپیسا، بامیکان و گندهارا و غیره یاد می

گردیده ، مردمان معتقد به آیین های دوره ودایی بودند و بیشتر آیین شیوایی داشتند که همان آیین میترایی می باشد.

شادروان غلام محمد غبار درهمین مورد بسیاربا وضاحت می نویسد که: « در دوره کوشانی های بزرگ از قرن اول تا سوم میلادی، تعدد عقیده و مذهب مثل سابق محترم، و طریقه های زرتشتی، بودایی و برهمنی، مساویانه تحت حمایت دولت قرار داشت. کانیشکا در مسکوکات خود تقریباً تمام ارباب انواع مشهور مملکت را نمایش میداد.

اشارات تاریخی مبین آن است که در روزگار کوشانی ها همهٔ مردم به آیین بودایی معتقد نشده بودند. تغییر دین ظرف دو سه قرن در جامعه نمی تواند صورت بگیرد. از سوی دیگر دین بودایی حتی در سرزمین هند نتوانست که بیشتر از هشت نه قرنی دوام بیاورد. در حالیکه ساختمان پیکره های بامیان حداقل چند صد سالی را می بایست در بر گرفته باشد.

و نیز گفته می شود که بامیان مرکز دین بودایی بوده است، بازهم از لحاظ منطق تاریخ درست به نظر نمی آید. زیراشاهان کوشاني از لحاظ مذهبي پيرو آيين خاصي نبودند از اینرو ديده مي شود که آيين خاصي را نيز به صورت مذهب رسمي قلمرو خود ترويج نکرده اند و پيروان مذاهب و آيين هاي مختلف، آزادانه به فعاليت هاي مذهبي خود مشغول بودند چنانکه تصاوير سکه هاي بدست آمده از دوره کوشانيان نشان مي دهد، تنوع تصاوير « ايزدان بر روي سکه هاي کوشاني بازتابي است از چندگونگي اعتقادات مذهبي در گستره وسيع قلمرو امپراطوري کوشان.

به هر حال، از مجموعه ای اسناد که ارائه گردید ثابت می شود که تندیس های بامیان بودا نبوده است و در زمان کوشانی ها چنانکه خواندیم دین شیوایی بیشتر رواج داشته است و هم چنان آیین برهمنی دین اکثریت از مردم شرق کشور ما را تشکیل میداده است. بنا برآن باید که خنگ بت و سرخ بت را در آیین های ودایی و برهمنی و میترایی و زرتشتی باید جستجو نمود

از سوی دیگر از این واقعیت هم نمی توان انکار کرد که مجسمه های بودا نیز در بامیان باید موجود باشد. و برخی از مجسمه هایی یافته شده بدون تردید مجسمه بودا نیز است. ولی خنگ بت و سرخ بت ، این عاشق و معشوق را نباید بودا گفت . بلکه بهتر است به همان خنگ بت و سرخ بت یاد کرد. این دو نام ، عاشق معشوق نماد از فرهنگ دوره هایی میترایی ، ودایی و اهورایی سرزمین ما می باشد.

یافت سرشت و سرنوشت این دو پیکره را به نسل های آینده می گذاریم تا با استفاده از انکشافات باستانشناسی ، خاک شناسی و سنگ شناسی به موفقیت هایی نایل آیند.

# مــادر

هدیه متعلم صنف یازدهم لیسه خصوصی
اکبر خان صافی

جسم نا توان مرا توان تو استی مادر
در دل من یگانه ارمان تو استی مادر

احساس درد زیاد میکنم بشنو
درد های تازه و دیرینه را درمان تو استی مادر

مقام و منزلت والاست نزد من
بروی قلب من بر سر مژگان تو استی مادر

در قلب من گر باشد پاییز برگ ریزان
در چشم من نایاب ترین گلستان تو استی مادر

گاهی گر غمگین شوم گاهی گر بیمار
بر بستر من نشسته گریان تو استی مادر

هست زیر پایت آن خلد برین
کلید خانه ابدی نکویان تو استی مادر

بجویم تمام عمر چیزی که شادات سازد
در بوستان دلم نرگس و لاله و ریحان تو استی مادر

هدیه گر همه عمرش را فدایت کند کم است
خوب خوبان اندازه جهان تو استی مادر